دده څخه، په سایه کې به داخل کړي دئ الله (په ورځ د قیامت) په سایه کې خپل.

(۲۲۷) مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا
هر هغه څوک، چې دروغ ووایي، پر ما، چې قصد کونکی وي

فَلْيَتَبَوَّاْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ. (رواه البخاری)
نو دی دې تیار کړي، ځای د ناستې خپل، د اور څخه

(۲۲۸) مَنْ خَرَجَ فِىْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ
هغه څوک، چې ووتی، په طلب کې، د علم، نو دی

فِىْ سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى يَرْجِعَ. (رواه الترمذی)
په لار کې د الله دی، تر هغو پورې، چې دی راځي کورته (یعني ثواب یې لکه جهاد دومره دی)

(۲۲۹) مَنْ اَذَّنَ سَبْعَ سِنِيْنَ مُحْتَسِبًا
هغه څوک، چې اذان وکړي، اووه، کاله، د ثواب لپاره

كُتِبَ لَهٗ بَرَآءَةٌ مِّنَ النَّارِ. (رواه الترمذی)
وبه لیکل سي، ده لره، خلاصوالی، د اور څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۳۰) مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ
هغه څوک، چي پريږدي، لمونځ د جمعي، بې له، عذره
كُتِبَ مُنَافِقًا فِيْ كِتَابٍ لَّا يُمْحٰى وَلَا يُبَدَّلُ. (رواه الشافعي)
نو وبه ليکل سي، منافق، په کتاب کي، چي نه خرابيږي، او نه بدليږي.

(۲۳۱) مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ
هغه څوک، چي مړسي، او جهاد يې نه وي کړی، او نه يې خبري کړي وي
بِهٖ نَفْسَهٗ مَاتَ عَلٰى شُعْبَةٍ مِّنْ نِّفَاقٍ. (مسلم)
د جهاد په باره کي، د ځان سره خپل، نو مړسو، پر بناخ، د منافقت

(۲۳۲) مَنْ لَّمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهٖ فَلَيْسَ
هغه څوک، چي نه پريږدي، خبره، د دروا غو، او عمل، په دروا غو سره، نو نسته
لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِيْ اَنْ يَّدَعَ طَعَامَهٗ وَشَرَابَهٗ. (البخاری)
الله لره، حاجت، په دې کي، چي پريږدي، خوراک، او څښاک خپل (په روژه کي)

(۲۳۳) مَنْ لَّبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ فِي الدُّنْيَا اَلْبَسَهُ
هغه څوک، چي واغوندي، جامه، د شهرت، په دنيا کي، وابه غوندي
اللّٰهُ ثَوْبَ مَذَلَّةٍ يَّوْمَ الْقِيَامَةِ. (رواہ احمد وغیرہ)
الله (په ده سره) جامه، د ذلت، په ورځ کي، د قيامت. (جامه د نبو خلکو اغوستل د پاره د ريا)

(۲۳۴) مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهٖ
هغه څوک، چي حاصلوي، علم (د دې پاره) چي مقابله وکړي، په دې علم سره
الْعُلَمَآءَ اَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَآءَ اَوْ يَصْرِفَ
د علماؤ سره، (او يا د دې پاره) چي جګړه وکړي، په دې علم، د ناپوهانو سره، او يا وګرځوي

Maktaba Tul Ishaat.com

بِهٖ وُجُوْهَ النَّاسِ اِلَيْهِ اَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ ۔ (رواه الترمذی)

په دغه علم، مخان، د خلکو، ودته، داخل به کړي دَی، الله، و اور تـه.

(۲۳۵) مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِّمَّا يُبْتَغٰى بِهٖ وَجْهُ اللّٰهِ

هغه څوک، چي زده کړي، علم، د هغه قسمه، چي حاصلیږي، په هغه سره، رضا د الله

لَا يَتَعَلَّمُهٗ اِلَّا لِيُصِيْبَ بِهٖ عَرَضًا

(خودی) دا علم نه زده کوي، مګر، ددې لپاره چي ورسیږي، په هغه سره، سامان ته

مِّنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (رواه ابوداؤد)

د دنـيـا، پیدا به نه کړي دَی، بوی، د جنت، په ورځ، د قيامت

(۲۳۶) مَنْ اَتٰى عَرَّافًا فَسَئَلَهٗ عَنْ شَيْءٍ

هغه څوک، چي راغی، وکوډګرته، نو يې پوښتنه وکړه دده څخه، د یو شي

لَمْ يُقْبَلْ لَهٗ صَلٰوةٌ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً. (رواه مسلم)

نه قبليږي، ده لـره، لمونځ، څلويښت، شپې.

(۲۳۷) مَنِ اسْتَعَاذَ مِنْكُمْ بِاللّٰهِ فَاَعِيْذُوْهُ

هغه څوک، چي پناه وغواړي، له تاسي څخه، په الله سره، نو پناه ورکړئ و دته

وَمَنْ سَاَلَ بِاللّٰهِ فَاَعْطُوْهُ وَمَنْ

او هغه څوک، چي سوال وکړي، په الله سره، نو يې ورکړئ و دته، او هغه څوک

دَعَاكُمْ فَاَجِيْبُوْهُ وَمَنْ صَنَعَ

چي تاسي وبولي (وميلمستيا ته) نو دعوت يې قبول کړئ، او هغه څوک، چي وکړي

اِلَيْكُمْ مَعْرُوْفًا فَكَافِئُوْهُ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا

ستاسو سره، احسان، نو عوض يې ورکړئ دته، که چیري تاسي، نه کړی پیدا

Maktaba Tul Ishaat.com

مَـــا تُكَافِئُوْهُ فَادْعُوْا لَهٗ حَتّٰى
هغه شئ، چي عوض ورکړئ دته، دعا وکړئ، دته، تر څو

تَرَوْا اَنْ قَدْ كَافَأْتُمُوْهُ. (رواه احمد)
تاسي ووينئ، داچي، بېشکه، تاسي عوض ورکړئ دته.

(۲۳۸) مَنْ رَاٰى مِنْكُمْ مُّنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهٖ
هغه څوک، چي ووینې، لتاسي څخه، بدکار، نو منع دي کړي، په لاس سره

فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ فَاِنْ لَّمْ
او که يې چيري، طاقت نه درلودی، نو په ژبه خپل دې منع کړي، او که يې چيري

يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَذَالِكَ اَضْعَفُ الْاِيْمَانِ. (رواه مسلم)
طاقت نه درلودی، نو په زړه سره خپل، او دغه نو، ضعيف ترين د ايمان دی

(۲۳۹) مَنْ اَفْطَرَ يَوْمًا مِّنْ رَمَضَانَ
هغه څوک، چي ماته کړي (روژه) يوه ورځ، د روژې د مياشتي

مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَّلَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ
بېله عذره، او بېله ناروغی، قضاء به را نه وړي، دده څخه

صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهٖ وَاِنْ صَامَهٗ. (رواه أحمد)
روژه، د زماني، ټولي، که څه هم، روژه ونيسي (د هغې روژې ځای به ونه نيسي)

(۲۴۰) مَنْ اَخَذَ اَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيْدُ اَدَاءَ هَا
هغه څوک، چي اخلي، مالونه (په پور) د خلکو، چي اراده لري، د اداء کولو، د دغه مالو

اَدَّى اللّٰهُ عَنْهُ وَمَنْ اَخَذَ يُرِيْدُ
اداء به کړي الله، دده څخه، او هغه څوک، چي اخلي مالونه، او قصد لري

Maktaba Tul Ishaat.com

اِتْلَافَهَا اَتْلَفَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ. (رواه البخاری)

د ضائع کولو دغه مالو، ضائع به کړي هغه مال الله، له ده څخه. (يعني دده مال به برباد کړي)

(۲۴۱) مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا اَوْ جَهَّزَ

هغه څوک، چي روژه مات ور کړي، و روژاتي ته، او يا تيارول وکړي

غَازِيًا فَلَهُ مِثْلُ اَجْرِهٖ. (رواه احمد)

غازي لره، نو ده لره، په مثل، د ثواب د دوی دی

(۲۴۲) مَنْ اَخَذَ مِنَ الْاَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهٖ خُسِفَ

هغه څوک، چي واخلي، د ځمکي څخه، يو شئ، بيله حقه دده، ننوتل به وسي

بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِلٰى سَبْعِ اَرْضِيْنَ. (البخاری)

په ده سره، په ورځ کي، د قيامت، تر اوومي، ځمکي پوري (چي د چا د ځمکي يو حصه غصب کړي)

(۲۴۳) مَنْ اَطَاعَنِىْ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ

هغه څوک، چي زما امر پر ځای کړي، نو په حقه، ده پر ځای کړی امر د الله

وَمَنْ عَصَانِىْ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ

او هغه څوک، چي زما د امر مخالفت وکړي، نو په حقه، ده مخالف وکړئ د امر د الله

وَمَنْ يُّطِعِ الْاَمِيْرَ فَقَدْ اَطَاعَنِىْ

او هغه څوک، چي امر د امير پر ځای کړي، نو په حقه، ده امر زما پر ځای کړی

وَمَنْ يَّعْصِ الْاَمِيْرَ فَقَدْ عَصَانِىْ. (رواه البخاری ومسلم)

او هغه څوک، چي مخالفت وکړي د امر د امير، نو په حقه دده، مخالفت وکړی د امر زما

(۲۴۴) مَنْ رَاٰنِىْ فِى الْمَنَامِ فَقَدْ رَاٰنِىْ فَاِنَّ

هغه څوک، چي ما ووينې، په خوب کي، نو په حقه، ده وليدم زه، په دې چي

Maktaba Tul Ishaat.com

الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ فِيْ صُوْرَتِيْ . (رواه البخاری ومسلم)

شيطان، نه سي شکل جوړوونکی، په شکل کي زما .

(۲۴۵) مَنِ ادَّعٰى مَا لَيْسَ لَهٗ فَلَيْسَ

هغه څوک، چي دعوه وکړي، د هغه شي، چي نه وي، ده لره، نو نه دی

مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ . (رواه مسلم)

زموږ څخه، او دی دي ونيسي، ځای خپل، د اور څخه . (کہ د مال دعوه وکړي که د نسب)

(۲۴۶) مَنْ صَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا

هغه څوک، چي ونيسي روژه، د رمضان، چي مؤمن وي، او غوښتنه د ثواب کوي

غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمَنْ

وبه بخښل سي، ده لره، هغه، چي ترمخه سوي دي، د ګناه څخه دده، او هغه څوک

قَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا

چي ولاړ سي، په شپه کي د رمضان، (تراويح ته) چي مؤمن وي، او طلب د ثواب کوي

غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمَنْ

وبه بخښل سي، ده لره، هغه، چي د مخه سوي دي، د ګناه څخه دده، او هغه څوک

قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا

چي ولاړ سي، په شپه کي، د قدر، چي دی مؤمن وي، او طلب د ثواب کوي

غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ . (رواه البخاری ومسلم)

وبه بخښل سي، ده لره، هغه، چي د مخه سوي دي، د ګناه څخه دده .

(۲۴۷) مَنْ اَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ

هغه څوک، چي خوراک وکړي، د دغه، درختي څخه، چي بدبويه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَاِنَّ الْمَلَآئِكَةَ

نو خامخا دي نه نږدې کيږي، مسجد ته زموږ، په دې چي ملائکان

تَتَاَذّٰى مِمَّا يَتَاَذّٰى مِنْهُ الْاِنْسُ. (رواه البخاري ومسلم)

زهيريږي، د هغه شي څخه، چي زهيريږي، د هغه څخه، انسانان. (پياز، اوږه، گندنه)

(۲۴۸) مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ

هغه څوک، چي وگرځول سي، قاضي، په منځ کي، د خلکو

فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّيْنٍ. (رواه احمد والترمذي)

نو په حقه دی، حلال کړل سو، بېله، چړې. (يعني په تېره د بره يا لرگي حلال سو)

(۲۴۹) مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللّٰهِ فَقَدْ اَشْرَكَ. (الترمذي)

هغه څوک، چي قسم واخلي، بېله الله، نو بېشکه، ده شريک ونيوي (الله نره)

(۲۵۰) مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

هغه څوک، چي دی، ايمان لري، پر الله، او پر ورځ، د اخرت

فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهٗ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

نو دی دي عزت ورکړي، و ميلمه خپل ته، او هغه څوک، چي وي، ايمان لري، په الله

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهٗ وَمَنْ كَانَ

او په ورځ، د قيامت، نو نه دي زهيروي، همسايه خپل، او هغه څوک

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَقُلْ

چي ايمان لري، په الله، او په ورځ، د قيامت، نو ودي وايي

خَيْرًا اَوْلِيَصْمُتْ. (رواه البخاري)

ښه خبره، او يا دي پټه خوله سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۵۱) مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا

هغه څوک، چي اداء کړي لمونځ، د ماخستن، په جماعت سره، نو لکه دی چي

قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ

لمونځ وکړي (تهجد) نيمه شپه، او هغه څوک، چي لمونځ وکړي، د سهار

فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ. (رواه مسلم)

په جماعت سره، نو لکه دی چي، لمونځ وکړي، په شپه کي، ټوله.

(۲۵۲) مَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ

هغه څوک، چي ځنډول وکړي، په ده سره، عمل دده

لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ. (مسلم)

تيزي نه کوي، په ده سره، قوم دده (که د چا عمل نه وي سم هغه ته د هغه نسب فايده نه ورکوي)

(۲۵۳) مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ

هغه څوک، چي حج وکړي، دپاره د الله، نو نه وکړي، د ښځي د نزديکت خبري، او نه وکړي

يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمٍ وَّلَدَتْهُ أُمُّهُ. (رواه البخاري ومسلم)

ګناوي، رابه سي (خپل کورته داسي) لکه په هغه ورځ چي، وزيږدی، د موره.

(۲۵۴) مَنْ سَأَلَ اللهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللهُ

هغه څوک، چي وغواړي د الله څخه، شهادت، په رښتيا سره، وبه رسوي دی، الله

مَنَازِلَ الشُّهَدَآءِ وَإِنْ مَاتَ عَلٰى فِرَاشِهٖ. (رواه مسلم)

ومرتبوته، د شهيدانو، که څه هم دی، مړسي، پر، کور بچه خپل.

(۲۵۵) مَنِ احْتَبَسَ فَرَسًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ إِيْمَانًا

هغه څوک، چي بند کړي، آس، په لارکي د الله، (جهاد) سره د ايمانه

Maktaba Tul Ishaat.com

بِاللهِ وَتَصْدِيْقًا بِوَعْدِهٖ فَاِنَّ شِبَعَهٗ وَرِيَّهٗ

په الله سره، او په باور سره، په وعده سره د الله، نو بېشکه، موړتيا دده، او اوبه کېدل دده

وَرَوْثَهٗ وَبَوْلَهٗ فِيْمِيْزَانِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ. (رواه البخاري)

او خوشايي دده، او متيازې دده (اچول کيږي) په ترازو کي دده، په ورځ کي د قيامت

(۲۵٦) مَنْ كَانَ لَهٗ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ. (رواه ابوداؤد)

هغه څوک، چي وي، ده لره، وېښتان، نو دی دي عزت ورکړي و دا وېښتانو ته

## نَوْعٌ اٰخَرُ مِنْهُ

قسم، بل، په شرط او جزاء

(۲۵۷) اِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ

هغه وخت، چي خوشحاله کړي تا، نيکي ستا، او پرېشانه کړي تا

سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ. (رواه احمد)

بدي ستا، نو ته، مؤمن يې (په ښه کار کولو که خوشحاله کيدې او په بد خوا بدی کيدې نو کامل مسلمان يې)

(۲۵۸) اِذَا وُسِّدَ الْاَمْرُ اِلٰى غَيْرِ اَهْلِهٖ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ. (البخاري)

هغه وخت، چي وسپارل سي، کار، و نا اهل ته، نو انتظار وکړه، و قيامت ته

(۲۵۹) اِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجٰى

هغه وخت، چي تاسي ياست، دري کسان، نو پټي خبري دي نه کوي

اِثْنَانِ دُوْنَ الْاٰخَرِ حَتّٰى تَخْتَلِطُوْا

دوه کسان، بېله، هغه بل څخه، تر هغو، چي تاسي يو ځای کيږئ

بِالنَّاسِ مِنْ اَجْلِ اَنْ يُّحْزِنَهٗ. (رواه البخاري)

د خلکو سره، د جهته، ددې، چي غمجن نه کړي دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۶۰) اِذَا قَضَى اللهُ لِعَبْدٍ اَنْ يَّمُوْتَ
هغه وخت، چي قضاء وکړي الله، يو بنده لره، ددې، چي مړ سي
بِاَرْضٍ جَعَلَ لَهٗ اِلَيْهَا حَاجَةً. (رواه الترمذی)
په يو مځکه کي، نو وګرځوي، ده لره، و دغه مځکي ته، اړتيا

(۲۶۱) اِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَاَكْثِرْ مَاءَهَا
هغه وخت، چي ته پخوې، ښوروا، نو ډيري يې کړه، اوبه، ددې
وَتَعَاهَدْ جِيْرَانَكَ. (رواه مسلم)
او ته مراعت وکړه، د همسايګانو ستا.

(۲۶۲) اِذَا لَبِسْتُمْ وَاِذَا تَوَضَّأْتُمْ
کله چي، جامې اغوندئ، او کله چي، اودس تازه کوئ
فَابْدَءُوْا بِمَيَامِنِكُمْ. (رواه احمد)
نو پيل کوئ، په ښي اندام.

(۲۶۳) اِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ اَصَابِعَ
کله چي؛ ته اودس تازه کوې، نو خلال وه، ګوتي
يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ. (الترمذی)
د لاسو ستا، او د پښو ستا

(۲۶۴) اِذَا وُضِعَ الطَّعَامُ فَاخْلَعُوْا نِعَالَكُمْ
کله چي، کښېښول سي، ډوډۍ، نو تاسي کاږئ، څوڼي ستاسي
فَاِنَّهٗ اَرْوَحُ لِاَقْدَامِكُمْ. (رواه الدارمی)
نو بېشکه دغه کښل د څوڼو، خوشحالي ده، پښو لره ستاسي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۶۵) اِذَا لَمْ تَسْتَحِیْ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ. (رواه البخاری)

کله چي، ته حیاء نه لري، نو ته وکړه، هغه، چي ستا خوښ وي.

(۲۶۶) اِذَا اَکَلَ اَحَدُکُمْ فَلْیَاْکُلْ

کله چي، خوراک کوي، یو ستاسي، نو خوراک دي وکړي

بِیَمِیْنِهٖ وَ اِذَا شَرِبَ فَلْیَشْرَبْ بِیَمِیْنِهٖ. (رواه مسلم)

په ښي لاس، او کله چي، څښاک کوئ، نو څښل وکړئ، په ښي لاس.

(۲۶۷) اِذَا دَخَلَ اَحَدُکُمُ الْمَسْجِدَ فَلْیَرْکَعْ

کله چي، ننوزي، یو ستاسي، و مسجد ته، نو اداء دي کړي

رَکْعَتَیْنِ قَبْلَ اَنْ یَّجْلِسَ. (بخاری ومسلم)

دوه رکعته لمونځ، دمخه، تر دې، چي کښېني.

(۲۶۸) اِذَا اِنْتَعَلَ اَحَدُکُمْ فَلْیَبْدَاْ بِالْیُمْنٰی

کله چي، چوتې پېښو کوي، یو ستاسي، نو پیل دي وکړي، په راسته سره

وَاِذَا نَزَعَ فَلْیَبْدَاْ بِالشِّمَالِ لِتَکُنِ الْیُمْنٰی

او کله چي، کاږي یې، نو شروع دي وکړي، په چپه سره، دپاره ددې، چي سي راسته

اَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَ اٰخِرَهُمَا تُنْزَعُ. (رواه البخاری ومسلم)

اول ددوی دوو، چي پښنو کیږي، او اخره ددوی دوو، چي کښل کیږي.

(۲۶۹) اِذَا اَطَالَ اَحَدُکُمُ الْغَیْبَةَ

کله چي، اوږد کړي (سفر) یو ستاسي، وتل د کوره

فَلَا یَطْرُقْ اَهْلَهٗ لَیْلًا. (رواه البخاری ومسلم)

نو نه دي ورځي، و کور ته خپل، په شپه کي (که چیري سفر لنډ و بیا باک نسته)

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۷۰) اِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيْضِ فَنَفِّسُوْا
کله چي، تاسي ورسئ، و ناروغ ته، نو تسلي ورکوئ
لَهٗ فِيْ اَجَلِهٖ فَاِنَّ ذٰلِكَ لَا يَرُدُّ
ده لره، په مرینه کي دده، په دي چي، دغه تسلي، نه وروسته کوي
شَيْئًا وَّيُطِيْبُ بِنَفْسِهٖ. (رواه الترمذی)
یو شئ (د تقدیر) او خوشحاله کیدل کوي، په ځان دده (ځکه چي داد د زوند ورکوي)

## ذِكْرُ بَعْضِ الْمُغَيَّبَاتِ

یادونه، دځینو، پټو خبرو

اَلَّتِيْ اَخْبَرَ النَّبِيُّ بِهَا وَظَهَرَتْ بَعْدَ
هغه، چي خبري کړيدي، نبي کریم ﷺ د هغو، او ښکاره سوي دي، وروسته
وَفَاتِهٖ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهٗ عَلَيْهِ.
ترمرګ دده، تعظیمونه، د الله، او سلامونه دده، پرده باندي
(۱) قَالَ النَّبِيُّ ﷺ وَهُوَ سَيِّدُ الصَّادِقِيْنَ لَا يَزَالُ
ویلي دي، نبي کریم، او هغه، سردار دی، د رېښتینو، همیشه به
مِنْ اُمَّتِيْ اُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِاَمْرِ اللهِ لَا يَضُرُّ
د امته ځخه زما، یوه ډله، ولاړه وي، په دین کي، د الله، نه به رسوي ضرر
هُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ
و دوی ته، هغه څوک، چي ددوی مرسته نه کوي، او نه هغه څوک
خَالَفَهُمْ حَتّٰى يَاْتِيَ اَمْرُ اللهِ
چي مخالفت یې کړی وي ددوی ځخه، تر هغو، چي راځي، امر د الله

Maktaba Tul Ishaat.com

وَهُمْ عَلٰى ذَالِكَ. (البخاری و مسلم)

او دوی به، پر دغه دین حق باندي وي.

(۲) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِ الزَّمَانِ

ويلي دي، نبي ﷺ پيدا کيږي، په اخره زمانه کي

دَجَّالُوْنَ كَذَّابُوْنَ يَاْتُوْنَكُمْ

ډير خطا ايستونکي، او ډير درواغجنان، چي راتګ به کوي و تاسي ته

مِنَ الْاَحَادِيْثِ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوْا اَنْتُمْ

د خبرو څخه، په هغه، چي نه وي اورېدلي تاسي

وَلَا اٰبَاؤُكُمْ فَاِيَّاكُمْ وَاِيَّاهُمْ

او نه پلارانو ستاسي، نو وساتئ تاسي (ځانونه ددوی څخه) او وساتئ دوی (د خپلو ځانو څخه)

لَا يُضِلُّوْنَكُمْ وَلَا يَفْتِنُوْنَكُمْ. (بخاری و مسلم)

چي نه کړي ګمراهان تاسي، او نه په فتنه کي واچوي تاسي.

(۳) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِيْ

او ويلي دي، نبي کريم ﷺ غوره د خلکو، خلک زما د زماني دي

ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ

وروسته، هغه کسان دي، چي نږدې دي و دوی ته، وروسته، هغه کسان دي

يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ يَجِيْءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ

چي نږدې دي دوی ته، وروسته، راځي، يو ډله، چي د مخه کيږي، شاهدي اداء کول

اَحَدِهِمْ يَمِيْنَهٗ وَيَمِيْنُهٗ شَهَادَتَهٗ (بخاری ومسلم)

ديوه ددوی، تر قسم اخستلو دده، او دهغه قسم به مخکيوالی کوي، تر شاهدۍ دده.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ
او ويلي دي، نبي كريم ﷺ خامخا به راځي، پر خلكو
زَمَانٌ لَّا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا أَكَلَ الرِّبَا فَإِنْ
يو زمانه، چي نه به سي پاته، يو څوک، خو، ده خوړلی وي، سود. كه يې چيري
لَّمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهٖ. (رواه احمد وابوداود)
نه وي، خوړلی دغه سود، رسيدلی به وي و ده ته، يو څه د بخار (اثر) څخه د سود.
(۵) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ الدِّيْنَ بَدَأَ
او ويلي دي، نبي كريم ﷺ، بېشكه، دين، پيل سو
غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَأَ فَطُوْبٰى
مسافر (نا اشنا) او ژر دی چي و به ګرځي، لكه چي، پيل سوی ؤ، نو خوشحالي ده
لِلْغُرَبَاءِ وَهُمُ الَّذِيْنَ يُصْلِحُوْنَ مَا أَفْسَدَ
مسافرانو لره، او هغه كسان، چي دوی ژوندی كوي، هغه، چي مړ كړی دی،
النَّاسُ مِنْ بَعْدِيْ مِنْ سُنَّتِيْ. (رواه الترمذی)
(يعني پرېښی يې وي) خلكو، وروسته تر ما، د سنت څخه زما.
(۶) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَحْمِلُ هٰذَا الْعِلْمَ
او ويلي دي، نبي ﷺ، اخلي، دغه، علم (د دين)
مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُوْلُهُ يَنْفُوْنَ عَنْهُ
د هري ډلي، چي وروسته راځي، عادلان چي دوی، لیري كوي، د دې علمه
تَحْرِيْفَ الْغَالِيْنَ وَانْتِحَالَ
لاس وهنه، د تجاوزكونكو، او دروغ تړل (په دين كي)

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمُبْطِلِيْنَ وَتَاوِيْلَ الْجَاهِلِيْنَ.

د باطل کارانو، او غلطي معناوي کول، د جاهلانو.

(۷) وَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ

او ويلي دي، نبي ﷺ، زما دي قسم وي په هغه چا، چي ذات زما

بِيَدِهٖ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتّٰى يَأْتِیَ عَلَى النَّاسِ

پلاس کي دده دی، چي نه تيريږي، دنيا، ترهغو، چي رابه سي، پر خلکو

يَوْمٌ لَّا يَدْرِیْ الْقَاتِلُ فِيْمَ قَتَلَ وَلَا الْمَقْتُوْلُ

يوه ورځ، چي نه به وي خبر، وژونکی، چي پرڅه دي، مړکړی، او نه به وژل سوی

فِيْمَ قُتِلَ فَقِيْلَ كَيْفَ يَكُوْنُ ذَالِكَ

چي په څه وجه، دئ مړکړل سو، نو د ته وويل سول، چي څنګه به، وي، دغه کار

قَالَ الْهَرَجُ الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُوْلُ فِی النَّارِ. (مسلم)

ده وويل، دا فتنه ده، وژونکی، او وژل سوی (دواړه به) په اور کي وي.

(۸) وَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيُقْبَضُ

او ويلي دي، نبي کريم ﷺ، سره نږدې به سي، زمانه، او پورته به سي

الْعِلْمُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ

علم (ديني)، او ښکاره به سي، فتني، او واله به چول سي، بُخل، او ډيري به سي

الْهَرَجُ قَالُوْا وَمَا الْهَرَجُ قَالَ الْقَتْلُ (بخاری ومسلم)

هرج، دوی وويل، څه شئ دی، هرج؛ ده وويل، وژنه ده.

(۹) وَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ

او ويلي دي، نبي ﷺ، قسم په هغه ذات، چي تن زما، پلاس کي دده دی

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتّٰى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ

چي نه تيريږي ، دنيا ، ترهغو ، چي تيريږي به ، سړی ، پر قبر باندي

فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ وَيَقُوْلُ يَالَيْتَنِيْ كُنْتُ مَكَانَ

نو به لغړي ، پر دې قبر ، او وايي به ، اې هلاکه کاشکي ، زه واى ، پر ځاى

صَاحِبِ هٰذَا الْقَبْرِ وَلَيْسَ بِهِ الدِّيْنُ اِلَّا الْبَلَاءُ (مسلم)

د خاوند ، د دغه قبر ، او نه به وي ، سبب د دغه کار ، دين ، خو وي به. بلا او فتنه.

(۱۰) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يُوْشِكُ اَنْ يَّاْتِيَ عَلَى النَّاسِ

او ويلي دي ، نبي ﷺ ، نږدې ده ، دا ، چي رابه سي ، پر خلکو

زَمَانٌ لَّا يَبْقٰى مِنَ الْاِسْلَامِ اِلَّا اسْمُهٗ وَلَا يَبْقٰى

يو زمانه ، چي پاته به نه سي ، د اسلام څخه ، خو ، نوم د ده ، او نه به پاته سي

مِنَ الْقُرْاٰنِ اِلَّا رَسْمُهٗ مَسَاجِدُهُمْ

د قران څخه ، خو ، علامه د ده ، مسجدونه د دوی

عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ مِّنَ الْهُدٰى عُلَمَآؤُهُمْ

ابادوي ، او دوی به ، تباه وي ، د هدايت څخه ، علماء د دوی

شَرٌّ مِّنْ تَحْتِ اَدِيْمِ السَّمَآءِ مِّنْ عِنْدِهِمْ

بد ترين د هغه چا دي ، چي لاندي ، ترمخ ، د اسمان دي ، د طرفه د دوی

تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ وَفِيْهِمْ تَعُوْدُ. (رواه البيهقي)

راوځي ، فتنه ، او بيرته په دوی کي ، اغيزکوي (بيرته به دوی ته راګرځي)

(۱۱) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِ الزَّمَانِ

او ويلي دي ، نبي ﷺ ، پيدا کيږي ، په اخره زمانه کي

Maktaba Tul Ishaat.com

اَقْوَامٌ اِخْوَانُ الْعَلَانِيَّةِ وَاَعْدَاءُ السَّرِيْرَةِ فَقِيْلَ

ډلي، ورونه به وي، ښکاره، او دښمنان به وي، په باطن کي، نو وويل سول

يَا رَسُوْلَ اللهِ وَكَيْفَ يَكُوْنُ ذَالِكَ قَالَ

يا رسول الله، او څنګه به، وي، دا کار، ده وويل

ذَالِكَ بِرَغْبَةِ بَعْضِهِمْ اِلٰى بَعْضٍ

دغه کار، په سبب د اسرې، د ځينو (کسانو) و نورو ته

وَّرَهْبَةِ بَعْضِهِمْ مِّنْ بَعْضٍ. (رواه احمد)

او په سبب د بيري، د ځينو (کسانو) د ځينو څخه

(۱۲) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَذْهَبُ الصَّالِحُوْنَ الْاَوَّلُ

او ويلي دي، نبي كريم ﷺ، روانيږي، نيكان (مړه کيږي) اول

فَالْاَوَّلُ وَتَبْقٰى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ

وروسته تر اول، او پاته به سي، بوسه (بېکاره خلک) لکه بېکاره

الشَّعِيْرِ اَوِالتَّمْرِ لَا يُبَالِيْهِمُ اللهُ بَالَةً. (رواه البخاري)

د اوربشو، يا د خورما، پروا نه کوي الله، په هيڅ پروا سره (قدر نه لري)

(۱۳) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَكُوْنَ

او ويلي دي، نبي كريم ﷺ، نه دريږي، قيامت، ترهغو، چي سي

اَسْعَدَ النَّاسِ بِالدُّنْيَا لُكَعَ ابْنُ لُكَعٍ. (رواه الترمذي)

عزتمند، د خلکو، په دنيا کي، احمق، زوی، د احمق. (نه خلک به بې قدره سي فاسقان به عزتمند سي)

(۱۴) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ

او ويلي دي، نبي كريم ﷺ، راځي، پر خلکو، يو زمانه، چي صبر کونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيْهِمْ عَلٰى دِيْنِهٖ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ. (رواه الترمذی)

په دوی کي، پر دین خپل (داسي وي) لکه مټ نیوونکی، پر سکروټه د اور.

(۱۵) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يُوْشِكُ الْاُمَمُ اَنْ تَدَاعٰى

او ویلي دي، نبي کریم ﷺ، نږدې ده، امتو لره، دا (دلي د کفارو به) یو د بله رابلنه کوي

عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْاَكَلَةُ اِلٰى قَصْعَتِهَا

پر تاسو، لکه چي، یو د بله رابلنه کوي، خوړونکي، و کاسې ته د دوی

فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ بَلْ

نو وویل، یو ویونکي، آیا د لږوالي څخه؟ زموږ، په دغه ورځ کي، ده وویل، یا

اَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيْرٌ وَلٰكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ

تاسي به، په دغه ورځ کي، ډیر یاست، او مګر تاسي به، خاشاک یاست، لکه خاشاک

السَّيْلِ وَلَيَنْزِعَنَّ اللّٰهُ مِنْ صُدُوْرِ عَدُوِّكُمُ

د سیل، او خامخا به وباسي الله، د سینو څخه، د دښمنانو ستاسو

الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ فِيْ قُلُوْبِكُمُ

بیره هیبت، له تاسو څخه، او خامخا به اچوي، په زړو کي ستاسي

الْوَهْنَ قَالَ قَائِلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْوَهْنُ

ضُعف، وویل، یو ویونکي، اې رسول د الله، څه شی دی، ضُعف

قَالَ حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ. (رواه ابوداؤد)

ده وویل، مینه د دنیا، او بد وړل، د مرګ څخه.

(۱۶) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى

او ویلي دي نبي کریم ﷺ، نه دریږي، قیامت، تر هغو

Maktaba Tul Ishaat.com

يَخْرُجَ قَوْمٌ يَأْكُلُوْنَ بِأَلْسِنَتِهِمْ

چي راوبه وزي، يو قوم، چي خوراک به کوي، په خپلو ژبو سره

كَمَا تَأْكُلُ الْبَقَرَةُ بِأَلْسِنَتِهَا. (رواه احمد)

لکه چي، خوراک کوي، غواوي، په خپلو ژبو سره.

(١٧) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ

او ويلي دي نبي کريم ﷺ، راځي، پر خلکو، داسي زمانه

لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ

چي پروا به نه کوي، سړی، په هغه شي، چي ده واخستی، هغه

أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ. (رواه البخاری)

د حلال څخه دي، او که د حرام څخه.

(١٨) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَتَدَافَعَ

او ويلي دي نبي کريم ﷺ، بېشکه، د علامو څخه، د قيامت، دا دي، ساتنه به کوي

أَهْلُ الْمَسْجِدِ لَا يَجِدُوْنَ إِمَامًا يُصَلِّيْ بِهِمْ. (ابوداود)

خاوندان، د مسجد خپل، پيدا به نه کړي، امام، چي لمونځ وکړي، په دوی سره.

(١٩) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ مِنْ أَشَدِّ أُمَّتِيْ لِيْ

او ويلي دي نبي کريم ﷺ، بېشکه، د سخت ترينو څخه، د امت زما، ما لره

حُبًّا نَاسٌ يَكُوْنُوْنَ بَعْدِيْ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ

ازروی محبت، خلک دي، چي پيدا کيږي، وروسته تر ما، خوښوي به، يو د دوی

لَوْ رَآنِيْ بِأَهْلِهِ وَمَالِهِ. (مسلم)

کاشکي، ده زه ليدلی وای، په مقابل کي د کورنۍ دده، او د مال دده. (اهل او مال مي هلاک سوی وای خو دی مي ليدلی وای)

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۰) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ سَيَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ

او ويلي دي نبي کريم ﷺ ، ژر دی چي پيدا به سي ، په اخر کي ، ددي ، امت

قَوْمٌ لَّهُمْ مِثْلُ اَجْرِ اَوَّلِهِمْ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

يو قوم ، دوی لره ، په مثل ، د ثواب ، د اول ددغه امت ، دوی به امر کوي ، په ښه کار

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقَاتِلُوْنَ اَهْلَ الْفِتَنِ. (رواه البيهقي في دلائل النبوة)

او منع به کوي ، د بد کار څخه ، او دوی به جګړه کوي ، د اهل فساد سره

(۲۱) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَيَاْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ

او ويلي دي نبي کريم ﷺ ، زما دي قسم وي ، خامخا به راځي پر خلکو ، يو زمانه

لَا يَنْفَعُ فِيْهِ اِلَّا الدِّيْنَارُ وَالدِّرْهَمُ. (رواه احمد)

چي ګټه به نه رسوي ، په دغه زمانه کي ، خو ، دينار ، او درهم

(۲۲) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ صِنْفَانِ مِنْ اَهْلِ النَّارِ

او ويلي دي نبي کريم ﷺ ، دوه ډوله دي ، د خاوندانو څخه ، د اور

لَمْ اَرَهُمَا قَوْمٌ مَّعَهُمْ سِيَاطٌ كَاَذْنَابِ الْبَقَرِ

نه دي ليدلي دغه دوه ، يو قوم دی ، ددوی سره ، چلاخي دي ، لکه لکياني ، د غويو

يَضْرِبُوْنَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَآءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ

دوی وهي ، په دغه ، خلک ، او بل قسم ښځي دي ، جامي اغوستونکي ، لڅي

مُّمِيْلَاتٌ مَّائِلَاتٌ رُّؤُسُهُنَّ كَاَسْنِمَةِ الْبُخْتِ

په خلکو کي خواهش پيدا کونکي ، ځان ته راجلبوونکي ، سرونه ددوی ، لکه بوکونه ، د بختي اوښ

الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيْحَهَا وَ اِنَّ

چي ميلان لري ، نه داخليږي دوی ، جنت ته ، او نه پيدا کوي ، بوی د جنت ، او بيشکه

Maktaba Tul Ishaat.com

رِيحَهَا لَتُوجَدُ مِنْ مَّسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا. (رواه مسلم)

چي بوى، پيدا كيږي، د مسافت څخه، چي دومره، او دومره دى. (يعني د پنځه سوو كالو لاره دي)

(۲۳) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ اللهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ اِنْتِزَاعًا

او ويلي دي نبي كريم ﷺ، بيشكه الله، نه ټولوي، علم، په كشيدو سره

يَّنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ وَلٰكِنْ يَّقْبِضُ الْعِلْمَ

چي كشوي يې، د بندګانو څخه، مګر، ټولوي يې، علم

بِقَبْضِ الْعُلَمَآءِ حَتّٰى اِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اِتَّخَذَ

په وفات، د علماؤ، تر داسي اندازې، چي باقي پري نږدي، عالم، نو ونيسي

النَّاسُ رُؤُسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوا فَافْتَوا

خلك، سرداران، ناخبره، نو پوښتني څني كيږي، نو دوى فتوا وركوي

بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوا وَاَضَلُّوا. (بخارى ومسلم)

بيله علمه، نو دوى په خپله هم ګمراهان دي، او نور هم ګمراهان كوي

(۲۴) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ

او ويلي دي نبي كريم ﷺ، تاسي ايزده كړئ، علم، او ورايزده يې كړئ، و خلكو ته

تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوْهَا النَّاسَ

تاسي ايزده كړئ، فرضونه، او تاسي يې وروښيئ، دغه فرضونه، و خلكو ته

تَعَلَّمُوا الْقُرْاٰنَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ فَاِنِّيْ امْرُءٌ

تاسي ايزده كړئ، قران، او ورو ښيئ، و خلكو ته، بيشكه، زه سړى يم

مَقْبُوْضٌ وَالْعِلْمُ سَيَنْقَبِضُ وَيَظْهَرُ الْفِتَنُ

وفات كيږم، او علم چي دى، ژر دى چي پورته به سي، او ښكاره به سي، اختلاف

Maktaba Tul Ishaat.com

حَتّٰى يَخْتَلِفَ اثْنَانِ فِىْ فَرِيْضَةٍ

تر دې پورې، چې اختلاف به وکړي، دوه کسان، په يو فرض کې

لَا يَجِدَانِ اَحَدًا يَّفْصِلُ بَيْنَهُمَا. (دارمی)

دوى به نسي پيدا کولاى، يو څوک، چې فيصله وکړي، په منځ کې ددوى دوو

(٢٥) وَقَالَ النَّبِىُّ ﷺ اِقْرَؤُا الْقُرْاٰنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ

او ويلي دي نبي کريم ﷺ، تاسو واياست، قران، په خوش اوازي (لهجه) د عربو

وَاَصْوَاتِهَا وَاِيَّاكُمْ وَلُحُوْنَ اَهْلِ الْعِشْقِ

او په اوازو ددوى، او تاسي ځانونه وساتئ، د اوازو څخه، د خلکو، د عشق

وَلُحُوْنَ اَهْلِ الْكِتٰبَيْنَ وَسَيَجِيْءُ بَعْدِىْ

او د خوش اوازئ څخه، د اهل کتابو (يهود او نصارا) او ژر دى چې رابه سي، تر ما

قَوْمٌ يُّرَجِّعُوْنَ بِالْقُرْاٰنِ تَرْجِيْعَ الْغِنَآءِ

يو قوم، چې دوى اړول کوي (اواز لړه) په قران سره، په مثل د اواز اړولو، په سندره

وَالنَّوْحِ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ مَفْتُوْنَةٌ

او په ژړا سره، چې نه تيريږي (دغه قران) تر ستنو ددوى، په فتنه کي اچول سوي دي

قُلُوْبُهُمْ وَقُلُوْبُ الَّذِيْنَ يُعْجِبُهُمْ شَاْنُهُمْ. (رواه البيهقی)

زړونه ددوى، او زړونه، د هغو کسانو، چې ښه خوند ورکوي، کار ددوى.

تَمَّ الْبَابُ الْاَوَّلُ وَيَلِيْهِ الْبَابُ

پوره سوه، برخه، لومړى، او نږدې ده ودته، هغه برخه

الثَّانِىْ بِحَمْدِ اللّٰهِ وَحُسْنِ تَوْفِيْقِهٖ.

چې دوهمه ده، په ثناء سره د الله، او په ښه، مرسته دده.

Maktaba Tul Ishaat.com

# اَلْبَابُ الثَّانِيْ

فِي الْوَاقِعَاتِ وَالْقِصَصِ وَفِيْهِ اَرْبَعُوْنَ قِصَّةً

په پیښو، او قصو کي دی، او په دې برخه کي، څلویښت قصې دي

(۱) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه

او د عمر، زوی، د خطاب رضي الله عنه (څخه روایت دی)

قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ

ده ویلي دي، په منځ کي د هغه، چي موږ، په مخ کي، د رسول اکرم ﷺ وُ

ذَاتَ يَوْمٍ اِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيْدُ بَيَاضِ

چي خاونده د ورځي وه، نابوبره ښکاره سو، پر موږ، یو سړی، چي سخت وُ، سپین والی

الثِّيَابِ شَدِيْدُ سَوَادِ الشَّعْرِ لَا يُرٰى عَلَيْهِ اَثَرُ

د جامو يې، سخت وُ، توروالی، د ویښتانو يې، نه معلومیدی، پر ده، نخښه

السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهٗ مِنَّا اَحَدٌ حَتّٰى جَلَسَ

د سفر، او نه پیژندی دی، د موږ څخه، هیڅا، تر څو چي، کښینستی نږدې

اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَاَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ

و نبي کريم ﷺ ته، نو تکيه يې کړه، څنګنونه خپل، و څنګنو ته د نبي کريم ﷺ

وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ

او کښیښنوول، ورغوي خپل، پر ورنو د رسول اکرم، او وې ویل، اې محمده

اَخْبِرْنِىْ عَنِ الْاِسْلَامِ قَالَ الْاِسْلَامُ اَنْ تَشْهَدَ

خبر کړه ما، د اسلام څخه، ده وويل (نبي اکرم) اسلام، دادی، چي ته شاهدي اداء کړې

اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ

ددې، نسته، هیڅ معبود حق، مګر یو الله، او بېشکه، محمد ﷺ رسول د الله دی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَتُقِيْمَ الصَّلٰوةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكٰوةَ وَتَصُوْمَ رَمَضَانَ
او ته صحيح، لمونځ کوې، او ته ورکوې، زکاة، او ته روژه نيسې، د مياشت د رمضان

وَتَحُجَّ الْبَيْتَ اِنِ اسْتَطَعْتَ اِلَيْهِ سَبِيْلاً
او ته حج کوې، د بيت الله، که چيرې، تا طاقت درلودی، ودې ته، د لارې

قَالَ صَدَقْتَ فَعَجِبْنَا لَهٗ يَسْأَلُهٗ
وويل (دغه سړي) تا رښتيا وويل، نو موږ تعجب وکړئ، ودته، پوښتنه کوي، دده څخه

وَيُصَدِّقُهٗ قَالَ فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِيْمَانِ قَالَ اَنْ
او تصديق کوي ده لره، ده وويل، خبر کړه ما، د ايمان څخه، ده وويل، دادی

تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلٰئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ
چې ته عقيده وکړې، پر الله، او پر ملائکو دده، او پر کتابو دده، او پر رسولانو دده

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ
او پر ورځ، د اخرت، او ته عقيده وکړې، پر تقدير، د خير پر تقدير، او پر شر د تقدير

قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِحْسَانِ
ده وويل، ته رښتيا ويونکی يې، ده وويل، خبر کړه ما، د احسان څخه

قَالَ اَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ
ده وويل (نبي کريم) دادی (احسان) چې ته عبادت کوې، د الله، لکه ته چې ځی، وينې

فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ قَالَ
که چيرې (داسې) نه کيږې، چې تې وينې، نو بېشکه دی، تاويني، ده وويل

فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ السَّاعَةِ قَالَ مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا
خبر کړه ما، د قيامت څخه (کله دی) ده وويل، نه دی، هيڅ مسؤل، هغه څوک

بِاَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ قَالَ
چې دده څخه پوښتنه وسې (د قيامت) تر سوال کونکي (ډير خبردار) ده وويل

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاَخۡبِرۡنِیۡ عَنۡ اَمَارَاتِهَا قَالَ اَنۡ تَلِدَ الۡاَمَةُ
نو خبر که ما ، د علامو څخه د قیامت ، ده وویل ، دادي ، چي وزیږوي ، مینځه
رَبَّتَهَا وَاَنۡ تَرَی الۡحُفَاةَ الۡعُرَاةَ الۡعَالَةَ رِعَاءَ الشَّآءِ
باداره خپله ، چي ته به یې ووینې ، لڅي پښي ، او لغ بدن ، او فقیران ، شپنیان د پسو
یَتَطَاوَلُوۡنَ فِی الۡبُنۡیَانِ قَالَ ثُمَّ
چي دوی به فخر کوي په اوږدو لو سره ، په ماڼیو کي ، ده وویل (عمر) وروسته (تر دغه)
انۡطَلَقَ فَلَبِثۡتُ مَلِیًّا ثُمَّ قَالَ لِیۡ یَا عُمَرُ
ولاړی (دغه سړی) نو ما څنډ وکړئ ، ډیر وخت ، وروسته ، وي ویل (رسول) ماله ، اي عمره
اَتَدۡرِیۡ مَنِ السَّائِلُ قُلۡتُ اَللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ
ایا ته علم لري ، چي څوک ؤ پوښتنه کونکی ، ما ورته وویل چي ، الله ، او رسول دده
اَعۡلَمُ قَالَ فَاِنَّهٗ جِبۡرِیۡلُ اَتَاکُمۡ
ښه خبر دی (تر ما) ده وویل ، نو بیشکه دغه (سړی) جبرائیل ؤ ، راغلی ؤ تاسي ته
یُعَلِّمُکُمۡ دِیۡنَکُمۡ ۔ (رواه مسلم)
درښووی یې تاسي ته ، دین ستاسي .

(۲) وَعَنۡ عَبۡدِ اللّٰهِ بۡنِ عَمۡرٍو رضی الله عنهما قَالَ رَجَعۡنَا
او د عبدالله ، زوی د عمر څخه روایت سوی دی ، ده وویل ، موږ رجوع وکړه
مَعَ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﷺ مِنۡ مَکَّةَ اِلَی الۡمَدِیۡنَةِ
سره ، د رسول الله ﷺ ، د مکې شریفي څخه راتلو ، و مدینې شریفي ته
حَتّٰی اِذَا کُنَّا بِمَآءٍ بِالطَّرِیۡقِ تَعَجَّلَ قَوۡمٌ
نو کله چي ، موږ سوو ، پر اوبو ، په لار کي ، تلوار وکړئ ، (ځیني) خلکو
عِنۡدَ الۡعَصۡرِ فَتَوَضَّاُوۡا وَهُمۡ عُجَّالٌ
په وخت کي ، د ماځیګر ، نو اودس یې تازه کاوه ، او دوی ، تلوار کونکي وه

Maktaba Tul Ishaat.com

فَانْتَهَيْنَا اِلَيْهِمْ وَاَعْقَابُهُمْ تَلُوْحُ لَمْ يَمَسَّهَا

نو موږ ورسيدلو ، ودوى ته ، او پوندي ددوى ، ځليدلې ، نه وې مسه کړې دوى

الْمَاءُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَيْلٌ

په اوبو (وچې وې) نو وويل ، رسول الله ﷺ ، سخت عذاب دى

لِّلْاَعْقَابِ مِنَ النَّارِ اَسْبِغُوا الْوُضُوْءَ . (رواه مسلم)

دغه پوندو لره ، د اور څخه ، تاسي پوره کړئ ، اودس .

(۳) وَعَنْ رَّبِيْعَةَ بْنِ كَعْبٍ رضي الله عنه قَالَ كُنْتُ

او د ربيعه ، زوى د كعب رضي الله عنه روايت سوى دى ، ده ويلي دي ، زه وم

اَبِيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَاَتَيْتُهُ بِوَضُوْئِهِ

شپه مي تيرول ، سره ، رسول الله ﷺ ، نو ما راتگ وكړى ودته ، په اوبو د اوداسه دده

وَحَاجَتِهِ فَقَالَ لِيْ سَلْ فَقُلْتُ اَسْئَلُكَ

او د حاجت دده ، نو ده وويل ، ماته ، سوال وكړه ، نو ما ورته وويل ، زه طلب كوم ستا څخه

مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ قَالَ اَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ

د ملګرتيا ستا ، په جنت كي ، ده وويل ، د بل شي غوښتنه وكړه

قُلْتُ هُوَ ذَاكَ قَالَ فَاَعِنِّيْ عَلٰى

ما وويل ، غوښتنه زما ، داغه ده ، ده وويل ، نو مرسته وكړه زما سره ، پر

نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ . (رواه مسلم)

ځان خپل ، په ډير والي ، د سجدو (يعني ډير لمونځونه كوه)

(۴) وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

او د نعمان زوى د بشير څخه روايت دى ، ده ويلي دي ، ؤ ، رسول الله ﷺ

لَيُسَوِّيْ صُفُوْفَنَا حَتّٰى كَاَنَّمَا يُسَوِّيْ بِهَا الْقِدَاحَ

برابرولې ، صفونه زموږ ، تر داسي اندازې ، گواكي ده ، برابروې ، په دغه صفو سره ، لرگي د غشو

Maktaba Tul Ishaat.com

حَتّٰى رَاٰى اَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ

تر داسي اندازې، چي ده وليدل، بېشکه، په حقه موږ، زده کړئ سمول د صفو. د ده څخه

ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتّٰى كَادَ اَنْ يُّكَبِّرَ

پس له دې، راووتی، يو ورځ، نو ودردی، تر داسي اندازې، نژدې و، ودې ته، چي الله اکبر دې وواييي

فَرَاٰى رَجُلاً بَادِيًا صَدْرُهٗ مِنَ الصَّفِّ

نو يې وليدی، يو سړی، چي ښکاره ؤ، ځيګر دده (وتلی ؤ) د صف څخه

فَقَالَ عِبَادَ اللهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ

نو يې وويل، اې بندګانو د الله، زما دې قسم وي (چي يا به تاسي برابروئ) صفونه ستاسي

اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ. (رواه مسلم)

او يا به خامخا مخالفت کوي الله، په منځ کي، د مخانو ستاسي.

(۵) وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَرَجَ زَمَنَ

او د ابي ذر رضي الله عنه څخه روايت دی، چي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم، ووتی، په زمانه کي

الشِّتَآءِ وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ فَاَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ

د ژمي، او بلګونه، توئيدل، نو ده ونيول وکړل، په دوو ښاخو سره، د يو درختي

قَالَ فَجَعَلَ ذٰلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ قَالَ

د ويلي دي، نو شروع يې وکړه، دغه بلګو، توئيدله، ويلي دي (ابو ذر)

فَقَالَ يَا اَبَا ذَرٍّ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ

نو نبي کريم وويل، اې ابا ذر، ما ورته وويل، په خدمت کي ستا حاضريم، اې رسوله

قَالَ اِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلٰوةَ

ده وويل، بېشکه، چي بنده، مسلمان (چي په حقه سره) اداء کوي، لمونځ دئ

Maktaba Tul Ishaat.com

يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ فَتَهَافَتْ عَنْهُ ذُنُوْبُهٗ

اراده يې وي، په هغه، وجه د الله، نو توئيږي، دده څخه، ګناوي دده

كَمَا تَهَافَتَ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ. (رواه احمد)

لکه چي توئيږي، ددغه بلګونه، ددغه، درختي څخه.

(۶) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رضي الله عنه قَالَ لَمَّا قَدِمَ

او د عبدالله زوی د سلام څخه روايت سوی دی، ده ويلي دي، کله چي، راغلی

النَّبِيُّ ﷺ اَلْمَدِيْنَةَ جِئْتُ فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهٗ

نبي کريم ﷺ، مديني ته، زه راغلم، نو کله چي، ما فکر وکړئ، په مخ کي دده

عَرَفْتُ اَنَّ وَجْهَهٗ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ فَكَانَ

ما وپژيندی، چي مخ دده، نه دی، مخ، ډير درواغجن، نو ؤ

اَوَّلُ مَا قَالَ يَا اَيُّهَا النَّاسُ اَفْشُوا السَّلَامَ

اول، د هغه، چي ده وويل، اي خلکو، ډير کړئ، سلام

وَاَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصِلُوا الْاَرْحَامَ وَصَلُّوْا بِاللَّيْلِ

او خورئ، ډوډی (په ورو)، او وصله کوئ، د قريبانو سره، نو لمونځ کوئ، په شپه کي

وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ. (رواه الترمذی)

او خلک، ښيده وي، تاسي به داخل سئ، و جنت ته، په سلامتيا سره

(۷) وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها اِنَّهُمْ ذَبَحُوْا شَاةً فَقَالَ

روايت دی د عائشي رضي الله عنها څخه، چي هغوی، حلال کړی، پسه، نو وي ويل (د ده)

النَّبِيُّ ﷺ مَا بَقِيَ مِنْهَا قَالَتْ

نبي کريم ﷺ، ايا يوڅه، پاته سو، د هغه څخه، هغې وويل

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا بَقِيَ مِنْهَا اِلَّا كَتِفُهَا قَالَ بَقِيَ
هيڅ شی نه دی پاته ، دهغه څخه ، ماسیوا ، د ولي څخه . وویل (نبي ﷺ) پاته دی
كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا. (رواه الترمذی)
ټوله ، ماسیوا ، د ولي څخه . (مطلب کوم شی چې د الله لپاره صدقه سي هغه ټوله باقي پاته کیږي)
(٨) وَعَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رضي الله عنه اِنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ اَنَّ
د قتاده رضي الله عنه څخه روایت دی ، یقیناً دئ ، ؤ ، چې حدیث یې بیانوی ، په رشتیا سره
رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وآله وسلم مُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ فَقَالَ
پر نبي ﷺ باندي ، تیریدل وسول ، د یوې جنازې ، نو وویل (نبي ﷺ)
مُسْتَرِيْحٌ اَوْ مُسْتَرَاحٌ مِنْهُ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ
یا به دئ هوساوي ، او یا به هوساسي ، دده څخه ، نو وویل (اصحابو) اي د الله رسوله
مَا الْمُسْتَرِيْحُ وَالْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ فَقَالَ الْعَبْدُ
څه شی دی مستریح ، او مستراح منه ، نو وویل (نبي ﷺ) بنده
الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيْحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَاَذَاهَا
چې مؤمن وي ، هوساینه پیدا کوي ، په مرګ سره د دنیا د ستړیا ، او تکلیفو څخه
اِلٰى رَحْمَةِ اللهِ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيْحُ
د الله و رحمت ته ، او بنده چې ، ګناه کاره وي ، په راحت کیږي (دده په مرګ)
مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ. (رواه البخاری ومسلم)
دده څخه ، بندګان ، او ښارونه ، او درختي ، او حیوانان (دده د شره څخه)
(٩) وَعَنْ بُرَيْدَةَ رضي الله عنه قَالَ دَخَلَ بِلَالٌ عَلٰى
روایت دی د بریده رضي الله عنه څخه ، دئ وایي ، داخل سو ، بلال ، پر
رَسُوْلِ اللهِ صلی الله علیه وآله وسلم وَهُوَ يَتَغَدّٰى فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وآله وسلم
رسول الله ﷺ باندي ، او ده (نبي) د ودۍ خوړله (سهار) نو وویل ، نبي ﷺ (بلال ته)

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْغَدَاءَ يَا بِلَالُ قَالَ اِنِّیْ صَائِمٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ
خوراک وکړه، يا بلاله (زما سره) وويل (بلال) زما روژه ده. اي د الله رسوله
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ نَأْكُلُ رِزْقَنَا وَ فَضْلَ
نو وويل، د الله رسول ﷺ موږ خپل رزق خورو، او زيات سو
رِزْقِ بِلَالٍ فِی الْجَنَّةِ اَشَعَرْتَ يَا بِلَالُ اَنَّ
رزق، د بلال، په جنت کي، آيا ته پوهيږې، اي بلاله، خامخا
الصَّائِمَ لَيُسَبِّحُ عِظَامُهُ وَيَسْتَغْفِرُ لَهُ
روژاتئ، دده لپاره تسبيح وايي، هډوکي دده، او بخښنه غواړي، دده لپاره
الْمَلَائِكَةُ مَا اُكِلَ عِنْدَهُ. (البيهقي)
ملائکي، ترهغو، چي خوراک کيږي، دده څخه.
(١٠) وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ اَتَيْتُ النَّبِیَّ ﷺ فِیْ دَيْنٍ
او روايت دی د جابر رضي الله عنه څخه، ده وويل، زه راغلم، ونبي ﷺ ته، د هغه پور په اړه
كَانَ عَلٰی اَبِیْ فَدَقَقْتُ الْبَابَ فَقَالَ مَنْ ذَا
چي ؤ، پر پلار زما، نو ما وروټکول، دروازه، نو وويل (نبي) څوک يې، ته
فَقُلْتُ اَنَا فَقَالَ اَنَا اَنَا كَاَنَّهُ كَرِهَهَا. (بخاري ومسلم)
نو ما ورته وويل، زه يم، نو ده وويل، زه زه، ګواکي (نبي ﷺ) دا بده وبلل.
(١١) وَعَنْ اَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَ اَخَوَانِ
او روايت دی د انس رضي الله عنه څخه، دی وايي، وه، دوه ورونه
عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ فَكَانَ اَحَدُهُمَا يَاْتِی النَّبِیَّ ﷺ
په زمانه کي د رسول الله ﷺ، نو ؤ، يو د دوی څخه، راتلی به، نبي ﷺ ته (لپاره د تعليم)
وَالْاٰخَرُ يَحْتَرِفُ فَشَكَا الْمُحْتَرِفُ اَخَاهُ
او هغه بل، کسب کوی، نو شکايت يې وکړ، کاسب، د خپل ورور

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلنَّبِیَّ ﷺ فَقَالَ لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهٖ ۔ (رواه الترمذی)

ونبي ﷺ ته، نو وويل (نبي) كيداسي تاته، رزق دركول كيږي، دده په خاطر.

(۱۲) وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْخَطَّابِ رضی اللہ عنہ قَالَ دَخَلَ

او روايت دی د واثله زوی د خطاب رضی اللہ عنہ څخه، دی وايي، را دننه سو

رَجُلٌ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَ فِی الْمَسْجِدِ قَاعِدٌ

يو سړی، پر رسول الله ﷺ باندي، او دی، په مسجد كي، ناست ؤ

فَتَزَحْزَحَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ الرَّجُلُ

نو وښكيدی، دده لپاره، رسول الله ﷺ، نو وويل، دا سړي

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ فِی الْمَكَانِ سَعَةً فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ

اي د الله رسوله، بېشكه، په ځای كي، پراخي سته، نو وويل، نبي ﷺ

اِنَّ لِلْمُسْلِمِ لَحَقًّا اِذَا رَاٰهُ اَخُوْهُ

خامخا، دپاره د مسلمان، دا حق دی (پر بل) كله چي، ووينې، خپل ورور

اَنْ يَّتَزَحْزَحَ لَهٗ. (رواه البيهقی)

دا، چي ورته پريږدي ځای، ده لره.

(۱۳) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ اَبِیْ سَلَمَةَ قَالَ كُنْتُ

او روايت دی د عمر بن ابي سلمه رضی اللہ عنہ څخه، ده وويل، زه وم

غُلَامًا فِیْ حِجْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَكَانَتْ

كوچنی، په تربيت كي، د رسول الله ﷺ، او ؤ

يَدِیْ تَطِيْشُ فِی الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِیْ

لاس زما، كرځيدی، په كاسه كي (د خوراک) نو وويل، ماته

Maktaba Tul Ishaat.com

رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ

نبي اکرم ﷺ ، بسم الله ووایه ، او خوراک کوه ، په راسته لاس سره ستا

وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ . (رواه البخاری)

او خوراک کوه ، د هغه ځایه ، چي در نژدې وي . (یعني د خپل مخ څخه خوراک کوه)

(۱۴) وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَجُلٌ

او روایت دی د امیه بن مخشي رضي الله عنه څخه ، ده وویل ، ؤ ، یو سړی

يَأْكُلُ فَلَمْ يُسَمِّ حَتّٰى لَمْ يَبْقَ

چي خوراک یې کوی ، نې وه ویلې ، بسم الله ، تر داسي وخته ، چي نسوه پاته

مِنْ طَعَامِهٖ إِلَّا لُقْمَةٌ فَلَمَّا رَفَعَهَا إِلٰى فِيْهِ

دده د خوراک څخه ، خو ، یوه ګوله ، نو کله چي یې ، پورته کوله ، و خولې ته

قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ أَوَّلَهُ وَاٰخِرَهُ فَضَحِكَ النَّبِيُّ ﷺ

وې ویل ، بسم الله ، اوله ، و اخره ، نو وخندل ، نبي ﷺ

ثُمَّ قَالَ مَازَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ

وروسته یې ، وویل ، تر هغه وخته ، شیطان ، خوراک کوئ ، سره دده

فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللّٰهِ اِسْتَقَاءَ مَا فِيْ بَطْنِهٖ . (ابوداؤد)

کله چي د.. ، یاد کړئ ، نوم د الله ، قی یې کړه (شیطان) هغه ، چي په نس کي دده وه

(۱۵) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا

او روایت دی د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه ، ده وویل ، موږ ؤ

يَوْمَ بَدْرٍ كُلُّ ثَلٰثَةٍ عَلٰى بَعِيْرٍ فَكَانَ

په ورځ ، د بدر ، تول ، درې درې کسان ، پر اوښ باندې ، نو ؤ

Maktaba Tul Ishaat.com

اَبُوْ لُبَابَةَ وَعَلِيُّ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ زَمِيْلَيْ

ابو لبابه، او علي، زوی د ابي طالب. ملګري

رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ فَكَانَتْ اِذَا جَاءَتْ

د رسول الله ﷺ، ده وويل (عبدالله بن مسعود) نو ؤ، کله چي، راغلی

عُقْبَةُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَا نَحْنُ نَمْشِيْ عَنْكَ

رون، د رسول الله ﷺ (پیادہ تگ) دوی وويل، موږ، تګ کوو، په نوبت کي ستا

قَالَ مَا اَنْتُمَا بِاَقْوٰى مِنِّيْ وَمَا اَنَا

ده وويل، نه یاست، تاسي، طاقتوره، تر ما، او نه یم زه

بِاَغْنٰى عَنِ الْاَجْرِ مِنْكُمَا. (رواه في شرح السنة)

بې پرواه، د ثواب څخه، تر تاسو

(۱۶) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضي الله عنه قَالَ لَقِيْتُ

او روايت دی د عقبه زوی د عامر رضي الله عنه څخه، ده وويل، ما ملاقات وکړ

رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقُلْتُ مَا النَّجَاةُ فَقَالَ

د رسول الله ﷺ سره، نو ما ورته وويل، په څه کي دی، خلاصون، نو ده راته وويل

اَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ

په واک کي کول دي، پر تا باندي، د ژبي ستا، او پاته سه، په کور کي

وَابْكِ عَلٰى خَطِيْئَتِكَ. (رواه احمد والترمذي)

او وژاړه، پر خپلو ګناهونو باندي.

(۱۷) وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ بَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

او روايت دی د علي رضي الله عنه، ده وويل، په منځ کي زموږ ؤ، رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

ذَاتَ لَيْلَةٍ يُّصَلِّيْ فَوَضَعَ يَدَهٗ عَلَى الْاَرْضِ

يوه شپه، لمونځ يې كوئ، نو يې كښېښودى، لاس خپل، پر مځكه باندي

فَلَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ فَنَا وَلَهَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

نو وچيچى لاس دده، لـړم، نو ووهى. او هغه لړم، رسول الله ﷺ

بِنَعْلِهٖ فَقَتَلَهَا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لَعَنَ اللهُ

په څپلى خپله، نو مړيې كړ، نو هركله، چي فارغ سو (لمانځه څخه) ويې ويل، لعنت دي وي د الله

الْعَقْرَبَ مَاتَدَعُ مُصَلِّيًا وَّلَا غَيْرَهٗ اَوْقَالَ

پر لـړم، چي نه پرېږدي، لمونځ كونكى، او نه بل څوك، او يا يې وويل

نَبِيًّا وَّغَيْرَهٗ ثُمَّ دَعَا بِمِلْحٍ وَّمَاءٍ

(نه پرېږدي) نبي، او نه بل څوک، وروسته يې، راوې غوښتل، مالګه، او اوبه

فَجَعَلَهٗ فِيْ اِنَآءٍ ثُمَّ جَعَلَ يَصُبُّهٗ

نو يې وګرځول دوى، په يو لوښي كي، وروسته يې، وګرځول، توى يې كړې

عَلٰى اِصْبَعِهٖ حَيْثُ لَدَغَتْهُ وَيَمْسَحُهَا

پر خپله ګوته، پر كوم ځاى چي يې، چيچلى و، او مسح يې كړې (اوبه) پر هغه ځاى

وَيُعَوِّذُهَا بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ. (رواه البيهقي في شعب الايمان)

او دم يې كړ هغه ځاى، په سورة فلق او سورة الناس سره

(۱۸) وَعَنْ اُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضی اللہ عنہ قَالَ بَعَثَنَا

او روايت دى د اسامه بن زيد رضی اللہ عنہ څخه، ده وويل، موږ واستولو (د غزا لپاره)

رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِلٰى اُنَاسٍ مِنْ جُهَيْنَةَ فَاَتَيْتُ

رسول الله ﷺ، و خلكو ته، د جهيني قبيلي، نو زه راغلم

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ فَذَهَبْتُ اَطْعَنُهٗ فَقَالَ

يو سړي ته، د دغي قبيلې، نو شروع مي وکړه، په نېزه وهلو دده. نو وويل ده

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَطَعَنْتُهٗ فَقَتَلْتُهٗ فَجِئْتُ

نشته، لائق د عبادت، بيله الله څخه، نو په نېزه مي وواهه، او مړ مي کړی. نو راغلل

اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَاَخْبَرْتُهٗ فَقَالَ اَقَتَلْتَهٗ

و نبي ﷺ، نو خبر مي کړی دئ، نو يې راته وويل، ايا تا وواژه

وَقَدْ شَهِدَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

او وروسته تر دي، چي شاهدي يې د توحيد ورکړل، ما ورته وويل، اي د الله رسوله

اِنَّمَا فَعَلَ ذٰلِكَ تَعَوُّذًا قَالَ فَهَلَّا

يقيناً، دا کار وکړه ده، د ځان ساتلو د پاره، نو يې وويل، نو تا يې ولي

شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهٖ. (رواه البخاري ومسلم)

نه څيری، دده زړه (يعني تا يې زړه يې وليدی چي دی کافر ؤ)

(۱۹) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اِنَّ رَجُلًا

او روايت دی د ابي هريره رضي الله عنه څخه، ده وويل، يقيناً، يو سړي

تَقَاضٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَاَغْلَظَ لَهٗ

د خپل پور غوښتنه کول، د رسول الله ﷺ څخه، نو سختي يې وکړه (په خبرو کي) ده لره

فَهَمَّ اَصْحَابُهٗ فَقَالَ دَعُوْهُ فَاِنَّ

نو اراده د وهلو يې وکړه، ملګرو دده، نو وويل (نبي اکرم) پريږدی، ځکه چي

لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا وَّاشْتَرُوْا لَهٗ بَعِيْرًا

د پوروړي لپاره، حق دی، د خبرو، ده لره، رانيسئ، او ښ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاَعْطُوْهُ اِيَّاهُ قَالُوْا لَا نَجِدُ اِلَّا اَفْضَلَ

او وريې کړی، د ته، دوی وويل، نه کړی پيدا موږ، خو، بهتره

مِنْ سِنِّهٖ قَالَ اشْتَرُوْهُ فَاَعْطُوْهُ اِيَّاهُ

په عمر کي (دده تر اوښ) وويل، رايې نيسئ، او وريې کړئ. د ته

فَاِنَّ خَيْرَكُمْ اَحْسَنُكُمْ قَضَاءً. (رواه البخاري ومسلم)

ځکه چي، ښه په تاسو کي (مفه څوک دی) چي ښه اداء کړي، قرض.

(۲۰) وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها اَنَّهَا عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم

او روايت دی د ام سلمه رضي الله عنها، يقيناً، په مخ کي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره

وَمَيْمُوْنَةَ اِذْ اَقْبَلَ اِبْنُ اُمِّ مَكْتُوْمٍ فَدَخَلَ

او ميمونه هم وه، نو دغه وخت، ابن ام مکتوم، نو را داخل سو

عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم اِحْتَجِبَا مِنْهُ فَقُلْتُ

پرده باندي، نو وويل، رسول الله صلى الله عليه وسلم، پرده وکړئ، دده څخه، نو ما ورته وويل

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَيْسَ هُوَ اَعْمٰى لَا يُبْصِرُنَا

اې رسوله د الله، ايا نه دی؟ دئ، ړوند، نه ويني موږ

فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم اَفَعَمْيَاوَانِ اَنْتُمَا

نو وويل، رسول الله صلى الله عليه وسلم، ايا ړندي ياست؟ تاسو دواړي

اَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهٖ. (رواه احمد والترمذي وابوداؤد)

تاسو دواړي، نه وينی دی.

(۲۱) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ

او روايت دی د ابي هريره رضي الله عنه، دی وايي چي نبي صلى الله عليه وسلم، وويل

Maktaba Tul Ishaat.com

كَانَتِ امْرَاَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا جَآءَ الذِّئْبُ

وې، دوې ښځې، سره ددوى، زامن وه دوه، راغلى، شرموښ

فَذَهَبَ بِابْنِ اِحْدٰهُمَا فَقَالَتْ صَاحِبَتُهَا

يو وړى، يو زوى، د يوې ښځه ددوى دوو، نو وويل، يوې ددوى ښځه

اِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ وَقَالَتِ الْاُخْرٰى اِنَّمَا

خامخا، وړى دى، زوى ستا، او وويل، هغه بلې، يقيناً

ذَهَبَ بِابْنِكِ فَتَحَا كَمَتَا اِلٰى دَاوٗدَ فَقَضٰى

يو وړى، زوى ستا، دوى دواړو، فيصله راوړل، و داؤد عليه السلام ته، نو فيصله وكړل

بِهٖ لِلْكُبْرٰى فَخَرَجَتَا عَلٰى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوٗدَ

په دوى كې، دپاره د مشرې، نو دوى راووتلې، پر سليمان عليه السلام، چې زوى د داؤد دى

فَاَخْبَرَتَاهُ فَقَالَ ائْتُوْنِىْ بِالسِّكِّيْنِ اَشُقُّهٗ

خبر كړى دواړو، نو وويل (سليمان)، راوړئ، چاړه، چې دوى ته يې كړم

بَيْنَكُمَا فَقَالَتِ الصُّغْرٰى لَا تَفْعَلْ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ

په منځ كې ددوى دوو، نو وويل، كشرې، مه كوه داسې، رحم دې پر تا وكړې الله

هُوَ ابْنُهَا فَقَضٰى لِلصُّغْرٰى. (بخارى ومسلم)

دا زوى ددې ؤ، نو فيصله يې وكړه، د كشرې په طرف.

(۲۲) وَعَنْ بُرَيْدَةَ رضي الله عنه قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم

او روايت دى د بريده رضي الله عنه ښځه، وويل، په منځ كې زموږ ؤ، رسول الله صلى الله عليه وسلم

يَمْشِىْ اِذْجَاءَهٗ رَجُلٌ مَعَهٗ حِمَارٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

تګ مو كاوه، چې راغلى، يو سړى، د هغه سره، خر ؤ، نو وې ويل، يا رسول الله

Maktaba Tul Ishaat.com

اِرْكَبْ وَتَاَخَّرَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

زما سره سپور سه، او شاته سو، دغه سړی، نو وویل، رسول الله ﷺ

لَا اَنْتَ اَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ اِلَّا اَنْ

یا نه ته، حقداريې، په مخته کښېنستلو، ستا پر چارپای باندي، خو، هغه چي ته يې

تَجْعَلَهٗ لِيْ قَالَ جَعَلْتُهٗ لَكَ فَرَكِبَ. (ترمذی)

وګرځولې، زمالپاره، وویل (هغه سړي) وګرځوئ (ما ځپل حق) ستا لپاره، نو سپور سو (رسول الله مخته)

(۲۳) وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اِسْتَحْمَلَ

او روايت دی د انس رضی الله عنه، چي يو سړي، ذ سپرتيا لپاره، حيوان وغوښتی

رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ اِنِّيْ حَامِلُكَ عَلٰى وَلَدِ نَاقَةٍ

رسول الله ﷺ، وويل، زه، تاسپوروم، پر بچي، د اوښي

فَقَالَ مَا اَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

نو وويل، هغه، زه به څه وکړم، د اوښي په بچي، نو وويل، رسول الله ﷺ

وَهَلْ تَلِدُ الْاِبِلَ اِلَّا النُّوْقُ. (رواه الترمذی وابوداؤد)

او نه زيږوي، اوښان، مګر، اوښي. (معلومه سوه چي خوشطبعي جائز ده)

(۲۴) وَعَنْ اَبِيْ اَيُّوْبَ الْاَنْصَارِيِّ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ جَآءَ

او روايت دی د ابي ايوب انصاري رضی الله عنه، ده وويل، راغلی

رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ عِظْنِيْ وَاَوْجِزْ

يو سړی، و نبي ﷺ ته، نو ويې ويل، ماته نصيحت وکړه، او لنډ يې کړه

فَقَالَ اِذَا قُمْتَ فِيْ صَلٰوتِكَ فَصَلِّ صَلٰوةَ

نو ويې وويل (رسول اکرم) کله چي، ته چي ولاړ سې، و لمانځه ته خپل، نو داسي لمونځ کوه

Maktaba Tul Ishaat.com

مُوَدِّعٍ وَّلَا تَكَلَّمْ بِكَلَامٍ تَعْتَذِرُ
چي د دنیا څخه تلونکی یې، او داسي خبره مکوه، په خبره سره، چي معذرت غواړي

مِنْهُ غَدًا وَّ اجْمَعِ الْاِيَاسَ مِمَّا
د هغه څخه، سبا، او پوره کړه، نا اميدي، د هغه

فِي اَيْدِي النَّاسِ. (رواه احمد)
چي په لاسو کي، د خلکو دي.

(۲۵) وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ
او روايت دی د انس رضي الله عنه، ده وويل، په داسي حال کي، موږ، په مسجد کي

مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذْ جَآءَ اَعْرَابِيٌّ فَقَامَ
سره، د رسول الله صلى الله عليه وسلم (ناست وو) کله چي، راغلی، يو صحرايي، و دريدی

يَبُوْلُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
بولي يې کولې، په مسجد کي، نو ويې ويل، ملګرو، د رسول الله صلى الله عليه وسلم

مَهْ مَهْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزْرِمُوْهُ دَعُوْهُ
مکوه مکوه: نو وويل، رسول الله صلى الله عليه وسلم، بولي مه پر بندوئ، پر يږدئ

فَتَرَكُوْهُ حَتّٰى بَالَ ثُمَّ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نو يې پرېښودی، ترهغو، چي بولي يې کولې، وروسته، په تحقيق سره، رسول الله صلى الله عليه وسلم

دَعَاهُ فَقَالَ لَهٗ اِنَّ هٰذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ
راوغوښتی. نو ورته ويې ويل، ده لره، يقيناً، دغه مسجدونه، نه دي جوړ

لِشَيْءٍ مِّنْ هٰذَا الْبَوْلِ وَالْقَذِرِ وَ اِنَّمَا هِيَ
د يو داسي شي لپاره، چي دغه بولي، او ګندګی دي، او يقيناً دي

Maktaba Tul Ishaat.com

لِذِكْرِ اللهِ وَالصَّلٰوةِ وَقِرَآءَةِ الْقُرْاٰنِ اَوْ كَمَا

دپاره د ذکر د الله، او د لمانځه لپاره، او د ویلو، د قران لپاره، او یا لکه څنګه چي

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ وَاَمَرَ رَجُلاً مِّنَ الْقَوْمِ

وویل، رسول الله صلى الله عليه وسلم، وویل (انس) او امر یې کړ، یو سړی، د قوم څخه

فَجَآءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَّاءٍ فَشَنَّهٗ عَلَيْهِ. (بخاري ومسلم)

نو یې راوړې، په یوه سلواغه کي، د ابو څخه، نو یې توی کړې، پر هغه ځای باندي

(۲۶) وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ خَرَجْنَا وَفْدًا

او روایت دی د طلق زوی د علي رضي الله عنه، ده وویل، راغلو موږ، یوه ټولی

اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَبَايَعْنَاهُ وَصَلَّيْنَا مَعَهٗ

و رسول الله صلى الله عليه وسلم ته، نو بیعت وکړ موږ ده سره، او لمونځ وکړ موږ، سره دده

وَاَخْبَرْنَاهُ اَنَّ بِاَرْضِنَا بِيْعَةً لَّنَا فَاسْتَوْ

او خبر مو کړ موږ هغه، یقیناً، په مځکه کي زموږ، کلیسا ده، غوښتنه مو وکړل

هَبْنَاهُ مِنْ فَضْلِ طَهُوْرِهٖ فَدَعَا بِمَاءٍ

دده څخه موږ، د پاته اوبو، د اوداسه دده، نو یې غوښتنه وکړه، په اوبو سره

فَتَوَضَّاَ وَتَمَضْمَضَ ثُمَّ صَبَّهٗ لَنَا

نو یې اودس تازه کړ، او خوله یې پرېولل، وروسته یې، واچول یې، دپاره زموږ

فِيْ اِدَاوَةٍ وَّاَمَرَنَا فَقَالَ اُخْرُجُوْا فَاِذَا

په یو لوښو کي، او امر یې کړو موږ، نو ویې ویل، ولاړ سئ، کله چي

اَتَيْتُمْ اَرْضَكُمْ فَاكْسِرُوْا بِيْعَتَكُمْ

ورسیږئ، خپلي مځکي ته تاسي، نو ونړوئ تاسو، هغه کلیسا

Maktaba Tul Ishaat.com

وَانْضَحُوا مَكَانَهَا بِهٰذَا الْمَآءِ وَاتَّخِذُوهَا

او پاشل وکړئ، پر هغه ځای، په دغه، اوبو سره، او وګرځوئ هغه ځای

مَسْجِدًا قُلْنَا اِنَّ الْبَلَدَ بَعِيْدٌ وَّالْحَرُّ

مسجد، ورته وويل موږ، يقيناً، زموږ ښار، ليري دی، او ګرمي

شَدِيْدٌ وَّالْمَآءُ يَنْشَفُ فَقَالَ مُدُّوْهُ فَاِنَّهٗ

سخته ده، او اوبه به، وچي سي، نو ده وويل، ورواچوئ نوري اوبه، ځکه چي

لَا يَزِيْدُهٗ اِلَّا طِيْبًا. (رواه النسائی)

نه زياتوي دغه اوبو ته، خو، پاکوالی.

(۲۷) وَعَنْ جُوَيْرِيَّةَ رضي الله عنها اَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَرَجَ

او روايت دی د جويريه رضي الله عنها څخه، چي نبي صلى الله عليه وسلم، ووتی

مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِيْنَ صَلَّى الصُّبْحَ وَهِيَ

د دي څخه، وختي سهار، کله چي يې، لمونځ وکړ، د سهار، او دا

فِيْ مَسْجِدِهَا ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ اَنْ اَضْحٰى وَهِيَ

په ځای کي د لمانځه وه، وروسته، راوګرځيدی، وروسته، په وخت کي د څاښت، او دا

جَالِسَةٌ قَالَ مَا زِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِيْ

ناسته ده، ورته وويل (نبي اکرم) تر اوسه ته، پر هغه حال يې، هغه وخت

فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم

چي زه ستا څخه تللم، دي وويل، هو، وويل، نبي صلى الله عليه وسلم

لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ اَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مِرَارٍ

يقيناً، ما وويل، وروسته ستا، څلور، کلمې، دري ځله

Maktaba Tul Ishaat.com

لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ الْيَوْمَ لَوَزَنَتْهُنَّ

چي وتلل سي، د هغه څه سره، چي تا ويلي دي، نن ورځ، نو دا به پر درني سي

سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِهٖ وَرِضَا

پاكي ده الله لره، او ستاينه ده الله لره، په شمير، د مخلوق د هغه، او په خوشحالولو

نَفْسِهٖ وَزِنَةَ عَرْشِهٖ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ. (مسلم)

د ذات د هغه، او په وزن، د عرش د هغه، او د مقدار، د كلمو د هغه.

(۲۸) وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَجُلٌ

او روايت دی د ابو قتاده رضي الله عنه څخه، دی وايي، وويل، يو سړي

يَا رَسُوْلَ اللهِ اَرَأَيْتَ اِنْ قُتِلْتُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ صَابِرًا

اې رسول د الله، ماته خبر راكړه، كه زه ووژل سم، پر لاركي د الله، صبر كونكی

مُحْتَسِبًا مُقْبِلًا غَيْرَ مُدْبِرٍ يُكَفِّرُ اللهُ

د ثواب په نيت، مخته تلونكی، نه پر شا تلونكی، ايا و به بخښي الله

عَنِّيْ خَطَايَايَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم نَعَمْ

دما څخه، گناهونه زما، نو وويل، رسول الله صلى الله عليه وسلم، هو

فَلَمَّا اَدْبَرَ نَادَاهُ فَقَالَ نَعَمْ

نو هر كله چي، دهغه شا سوله، بېرته وي غږ كړ، نو ورته وي ويل (نبي اكرم) هو

اِلَّا الدَّيْنَ كَذٰلِكَ قَالَ جِبْرِيْلُ. (مسلم)

خو بيا نه بخښل كيږي، پور، دغه دول، وويل ماته، جبرائل عليه السلام

(۲۹) وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم

او روايت دی د ابي ذر رضي الله عنه څخه، ده وويل، زه داخل سوم، پر رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ بِطُوْلِهٖ اِلٰی اَنْ قَالَ قُلْتُ
یاد یې کړه، حدیث، اوږد، تر دې، چې ویلی یې دی، ما ورته وویل

یَا رَسُوْلَ اللهِ اَوْصِنِیْ قَالَ اُوْصِیْكَ بِتَقْوَی اللهِ
اې رسوله د الله، ما ته وصیت وکړه، وویل، وصیت کوم، په پرهیز سره د الله

فَاِنَّهٗ اَزْیَنُ لِاَمْرِكَ كُلِّهٖ قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ
ځکه چې، ښائسته کوي، کارونه ستا، ټوله، ما وویل، نور راته وکړه، وویل

عَلَیْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ وَذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ
پر ځان (لازم کړه) تلاوت، د قرآن، او ذکر د الله، عزتمند او دبدبه والا

فَاِنَّهٗ ذِكْرٌ لَّكَ فِی السَّمَآءِ وَنُوْرٌ لَّكَ فِی الْاَرْضِ
ځکه چې، دا به ذکر وي، ستا لپاره، په اسمان کي، او نور به وي، تا ته، په مځکه کي

قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ عَلَیْكَ بِطُوْلِ الصَّمْتِ فَاِنَّهٗ
ما ورته وویل، نور، وویل، غوره کړه، اوږده، چوپتیا، بېشکه دا

مَطْرَدَةٌ لِّلشَّیْطَانِ وَعَوْنٌ لَّكَ عَلٰی اَمْرِ دِیْنِكَ
شړنکې ده، د پاره د شیطان، او مرسته کوي، تا له، پر امر، د دین ستا

قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ اِیَّاكَ وَكَثْرَةَ الضِّحْكِ
ما ورته وویل، نور، وویل، وساته ځان، د ډیري، خندا څخه

فَاِنَّهٗ یُمِیْتُ الْقَلْبَ وَیُذْهِبُ بِنُوْرِ الْوَجْهِ قُلْتُ
ځکه چې، وژني، زړه، او ختموي، نور، د مخ، ما ورته وویل

زِدْنِیْ قَالَ قُلِ الْحَقَّ وَاِنْ كَانَ مُرًّا قُلْتُ
ډیری یې کړه، وې ویل، وایه، رشتیا، که څه هم ترخه وي، ما ورته وویل

Maktaba Tul Ishaat.com

زِدْنِیْ قَالَ لَاتَخَفْ فِی اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ

زیاته یې کړه، وې ویل، مه بیرېږه، د الله په اړه، د ملامت کونکي، د ملامتیا څخه

قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ لِیَحْجُزْكَ عَنِ النَّاسِ

ما ورته وویل، ډیر یې کړه، وې ویل، منعه دې کړي تا، د خلکو (د عیبونه)

مَا تَعْلَمُ عَنْ نَّفْسِكَ. (رواه البيهقي في شعب الايمان)

هغه شئ، چې تا ته معلوم وي (عیبونه) د خپل ځان په اړه. (خپل ځان اصلاح کړه نو بل عیب پسې مه ګرځه)

(۳۰) وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضي الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ

او روایت دی د ابي هریره رضي الله عنه څخه، یقیناً، رسول الله صلى الله عليه وسلم، وویل

اَتَدْرُوْنَ مَا الْغِیْبَةُ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ

ایا تاسو پوهیږئ، څه دی، غیبت، دوی وویل، الله، او رسول دده، ښه پوهیږي

قَالَ ذِكْرُكَ اَخَاكَ بِمَا یَكْرَهُ قِیْلَ

وویل، یادول، د خپل ورور، په هغه خبره، چې دی یې بده ګڼي، ورته وویل سوه

اَفَرَأَیْتَ اِنْ كَانَ فِیْ اَخِیْ مَا اَقُوْلُ قَالَ

خبر راکړه، که چیري وُ په ورور کي زما، هغه، چې زه یې وایم، وویل

اِنْ كَانَ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهٗ

که چیري وُ، په ده کي، هغه خبره، چې ته یې وایې، نو خامخا، تا غیبت وکړ

وَاِنْ لَّمْ یَكُنْ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدْ بَهَتَّهٗ. (رواه مسلم)

که چیري نه وُ، په ده کي، هغه، چې ته یې وایې، نو خامخا، تا بهتان وواېه.

(۳۱) وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم

او روایت د جابر رضي الله عنه څخه، ده وویل، چې وویل، رسول الله صلى الله عليه وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

اَوْحَى اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ اِلٰى جِبْرَئِيْلَ علیه السلام اَنْ اَقْلِبْ
وحي وکړې الله، عزوجل، و جبرايل علیه السلام ته، واړوه
مَدِيْنَةَ كَذَا وَكَذَا بِاَهْلِهَا فَقَالَ يَا رَبِّ
ښار، داسي او داسي، پردي خلکو، او وويل (جبرايل) اي ربه
اِنَّ فِيْهِمْ عَبْدَكَ فُلَانًا لَّمْ يَعْصِكَ
خامخا، په دوی کي، يو بنده ستا دی، فلانی، چي نافرماني يې نه ده کړې ستا
طَرْفَةَ عَيْنٍ قَالَ اَقْلِبْهَا عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ
په رپ، د سترګو، وويل (الله تعالیٰ) نسکوريې کړه، پر هغه، او پر دوی باندي
فَاِنَّ وَجْهَهٗ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ. (رواه البيهقي في شعب الايمان)
ځکه چي، مخ دده، تغير ونه کړ، زما په اړه، يو وخت، هيڅکله.

(۳۲) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم
او روايت دی ابن مسعود رضي الله عنه څخه، يقيناً، رسول الله صلی الله علیه وسلم
نَامَ عَلٰى حَصِيْرٍ فَقَامَ وَقَدْ اَثَّرَ فِيْ جَسَدِهٖ
بيده سو، پر يو بوريا، چي راولاړ سو، او خامخا، نخښه وه، پر بدن دده
فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ اَمَرْتَنَا
نو وويل، ابن مسعود، يا رسول الله، کاش چي تا امر کړي وای موږ
اَنْ نَّبْسُطَ لَكَ وَنَعْمَلُ فَقَالَ مَا لِيْ
موږ به هوار کړي وای (نرم څای) تا ته، او کار به مو کړی وای، نو ده وويل، زما
وَلِلدُّنْيَا وَمَا اَنَا وَالدُّنْيَا اِلَّا كَرَاكِبٍ
او د دنيا سره څه، او نه يم زه، او دنيا، خو، لکه يو سپور

Maktaba Tul Ishaat.com

نِ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ
په سایه کي کښیني، لاندي، تر یو د رختي، بیا

رَاحَ وَتَرَكَهَا. (رواه الترمذی وابن ماجه)
ارام وکړي، او ولاړ سي.

(۳۳) وَعَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه قَالَ كُنْتُ اَضْرِبُ
او روایت دی د ابي مسعود رضي الله عنه، ده وویل، زه وم، وهی مي

غُلاَمًا لِّيْ فَسَمِعْتُ مِنْ خَلْفِيْ صَوْتًا اِعْلَمْ
غلام، زما، نو ما واوریده، د شاله خوا، اواز، پوسه

اَبَا مَسْعُوْدٍ لَلّٰهُ اَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ
ابا مسعوده، خامخا الله، ډیر قادر دی، پرتا باندي، ترتا، پرده، ما ورته وکتل

فَاِذَا هُوَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ
نو دی، ؤ، رسول الله صلى الله عليه وسلم، نو ما ورته وویل، یا رسول الله

هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللّٰهِ فَقَالَ اَمَا اِنَّكَ لَوْلَمْ
دی، ازاد دی، دپاره د وجهي د الله، نو وي ویل، که چیري، تا، نه وای کړی تا

تَفْعَلْ لَلَفَحَتْكَ النَّارُ اَوْقَالَ
دغه کار، خامخا به ته سوځلی وای، اور، یا يي داسي وویل

لَمَسَّتْكَ النَّارُ. (رواه مسلم)
مسه کړی به وای ته، اور.

(۳۴) وَعَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ كُنْتُ خَلْفَ
او روایت دی د ابن عباس رضي الله عنه شخه، وویل، زه وم، ترشا (سپور وم)

Maktaba Tul Ishaat.com

رَسُوْلِ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم یَوْمًا فَقَالَ یَا غُلَامُ اِحْفَظِ اللّٰہَ

د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم سره ، یو ه ورځ ، نو ویې راته وویل ، اې هلکه ، د دین ساتنه کوه د الله

یَحْفَظْكَ اِحْفَظِ اللّٰہَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ

الله به ساتنه وکړي ستا ، د دین ساتنه کوه د الله ، ته به هغه پیدا کړې ، خپل په مخ کي

وَ اِذَا سَاَلْتَ فَاسْئَلِ اللّٰہَ وَ اِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ

او که سوال کوې ، نو د الله څخه یې کوه ، او کله چي مرسته غواړې ، نو مرسته غواړه

بِاللّٰہِ وَاعْلَمْ اَنَّ الْاُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلٰی اَنْ

په الله سره ، پوه سه ، که امت ټوله ، راټول کړل سي ، پر دې باندي

یَّنْفَعُوْكَ بِشَیْءٍ لَّمْ یَنْفَعُوْكَ اِلَّا بِشَیْءٍ

چي تا ته ګټه ورسوي ، په یو شي سره ، ګټه به ونه رسوي ، خو ، په هغه شي

قَدْ كَتَبَهُ اللّٰہُ لَكَ وَلَوِ اجْتَمَعُوْا عَلٰی اَنْ

یقیناً چي لیکلي وي الله ، تا لره ، که څه هم ، راټول کړل سي ، پر دې باندي

یَّضُرُّوْكَ بِشَیْءٍ لَّمْ یَضُرُّوْكَ اِلَّا

چي تا ته تاوان ذرور رسوي ، په یو شي سره ، ضرر به درونه رسوي تا ته ، خو

بِشَیْءٍ قَدْ كَتَبَ اللّٰہُ عَلَیْكَ رُفِعَتِ

په یو شي سره ، پر تا (د مخه څه) چي لیکلي وي الله ، تا ته ، پورته کړل سوي دي

الْاَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ. (رواه احمد وترمذی)

قلمونه ، او وچي سوي دي ، صحیفې (هر څه وړاندې په تقدیر کي لیکل سوي دي تغیر نه کوي)

(۳۵) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰہِ عَنْ اَبِیْهِ

او روایت دی د عبد الرحمٰن بن عبدالله څخه ، هغه د خپل پلار څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم فِي سَفَرٍ فَانْطَلَقَ
ده وويل، موږ ؤ، سره، د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم، په سفر کي، ولاړی
لِحَاجَتِهٖ فَرَأَيْنَا حُمَّرَةً مَّعَهَا فَرْخَانِ
د قضاء حاجت لپاره، نو موږ ولیدی، سرد چوغکه، سره ددې، دوه بچیان وه
فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا فَجَاءَتِ الْحُمَّرَةُ فَجَعَلَتْ
نو راواخستل موږ، چیچیان ددې، نو راغله، سره چوغکه، وې کرځول
تَفَرَّشُ فَجَاءَ النَّبِيُّ صلی اللہ علیہ وسلم فَقَالَ مَنْ فَجَعَ
وزرونه پر موږ، راغلی، نبي صلی اللہ علیہ وسلم، نو یې وویل، چا، دردولې ده
هٰذِهٖ بِوَلَدِهَا رُدُّوْا وَلَدَهَا اِلَيْهَا وَرَاٰى
دغه مرغۍ، ددې په بچیان باندي، ورېې کړی، چیچیان، ودې ته، او وې لیدی
قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ حَرَّقْنَاهَا قَالَ مَنْ حَرَّقَ
یو کلی، د میږیانو، یقیناً، سوځلي وه موږ، نو یې وویل، چا، سوځلي دي
هٰذِهٖ فَقُلْنَا نَحْنُ قَالَ اِنَّهٗ لَا يَنْبَغِيْ
دغه میږیان، نو موږ ورته وویل، موږ (سوځلي دي) ده وویل، بېشکه، نه بنايي چاته
اَنْ يُّعَذِّبَ بِالنَّارِ اِلَّا رَبُّ النَّارِ۔ (رواہ ابوداؤد)
دا، چي عذاب ورکړي، په اور سره، بېله، چي رب دی، د اور۔
(۳۶) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضی اللہ عنہ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم
او روایت دی د عبدالله چي زوی د عمر رضی اللہ عنہ دی، یقیناً، رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم
مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِيْ مَسْجِدِهٖ فَقَالَ كِلَاهُمَا
تیر سو، پر دوو مجلسونو باندي، په مسجد خپل کي، نو یې وویل، دواړه (مجلسه)

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلٰی خَیْرٍ وَّاَحَدُھُمَا اَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِہٖ اَمَّاھٰٓؤُلَآءِ
پر خیر دي، یو په دوی کي، ډیر ښه دی، تر هغه بل مجلس، اما دغه کسان

فَیَدْعُوْنَ اللّٰہَ وَیَرْغَبُوْنَ اِلَیْہِ فَاِنْ شَآءَ اَعْطَاھُمْ
چي را بولي الله، او امید لري، وده ته، که د الله خوښه وه، نو وربه یې کړي

وَاِنْ شَآءَ مَنَعَھُمْ وَاَمَّا ھٰٓؤُلَآءِ فَیَتَعَلَّمُوْنَ
او که یې خوښه سي، منع به یې کړي، او دغه کسان، چي دوی ایزده کوي

الْفِقْہَ اَوْقَالَ اَلْعِلْمَ وَیُعَلِّمُوْنَ الْجَاھِلَ فَھُمْ
فقه، او یا یې وویل، علم، او ښودنه کوي، ناپوه ته، نو دوی

اَفْضَلُ وَاِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا ثُمَّ جَلَسَ فِیْھِمْ. (رواہ الدارمی)
غوره دي، او یقیناً، زه رالیږل سوی یم، ښوونکی، بیا، کښېنستی، ددوی سره

(۳۷) وَعَنْ عَائِشَۃَ رضی اللہ عنہا قَالَتْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَعَدَ
او روایت دی د عائشي رضی اللہ عنہا څخه، دې وویل، راغلی، یو سړی، کښېنستی

بَیْنَ یَدَیْ رَسُوْلِ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ
مخته، د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم، نو یې وویل، اې رسوله د الله

اِنَّ لِیْ مَمْلُوْکِیْنَ یُکَذِّبُوْنَنِیْ وَیَخُوْنُوْنَنِیْ
یقیناً، زه، یو څو غلامان لرم، پښلا ما دروغجن بولي، زما په مال کي خیانت کوي

وَیَعْصُوْنَنِیْ وَاَشْتِمُھُمْ وَاَضْرِبُھُمْ فَکَیْفَ اَنَا
زما نافرماني کوي، زه دوی ته ښکنځل کوم، او وهم دوی، نو څرنګه یم، زه

مِنْھُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم اِذَا کَانَ یَوْمُ الْقِیٰمَۃِ
ددوی په اړه، نو وویل، رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم، کله، چي سي، ورځ، د قیامت

Maktaba Tul Ishaat.com

يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ

حساب به وكړي، دهغه، چي دوى خيانت كړى دى، او نافرمانى يې كړې ده

وَكَذَّبُوكَ وَعِقَابُكَ اِيَّاهُمْ فَاِنْ كَانَ

او دوى ته دروا غجن بللى يې، او سزا وركول ستا، و دوى ته، كه وه

عِقَابُكَ اِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا

سزا ستا، دوى لره، په اندازه، د گناهونو ددوى، وي به، سر په سر

لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ وَاِنْ كَانَ عِقَابُكَ اِيَّاهُمْ

نسته تا لره (ثواب) او نسته پر تا (عذاب) او كه چيري وه، سزا ستا، دپاره ددوى

دُوْنَ ذُنُوبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ وَاِنْ كَانَ

لږ، د گناه څخه ددوى، دغه كار، گټه ده، ستا دپاره، او كه چيري وه

عِقَابُكَ اِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ اقْتُصَّ لَهُمْ

سزا ستا، ددوى لپاره، زياته، تر گناهونو ددوى، كم به كړل سي، ددوى لپاره

مِنْكَ الْفَضْلُ فَتَنَحَّى الرَّجُلُ وَجَعَلَ يَهْتِفُ

ستا، نيكي (چي ظلم دي كړى دى) ليري سو، هغه سړى، او شروع يې وكړه، په چغو

وَيَبْكِي فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَمَا تَقْرَأُ

او ژړلې، نو وويل، دته، رسول الله ﷺ، ايا نه دى ويلى تا

قَوْلَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ

دغه قول د الله تعالى، او مور به ودروو، ترازوگان، د عدل

لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا

په ورځ كي، د قيامت، نو ظلم به ونه كړل سي، پر هيچا باندي، پر هيڅ شي

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ اِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا

او كه هم وي، په اندازه، د داني، د سپلني، موږ به راتګ په وكړو

بِهَا وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ فَقَالَ الرَّجُلُ

په هغه سره، او كافي يو، موږ، په حساب كولو سره، نو وويل، هغه سړي

يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا اَجِدُ لِيْ وَلِهٰؤُلَآءِ شَيْئًا خَيْرًا مِّنْ

اي رسول الله، نه مې ليدلاى زه، د دوى په باره كي، د يو كار، ښه والى، مګر

مُفَارَقَتِهِمْ اُشْهِدُكَ اَنَّهُمْ كُلُّهُمْ اَحْرَارٌ. (رواه الترمذى)

د دوى څخه بېلوالى، او زه شاهد كوم تا، بېشكه دوى، ټول، ازاد دي.

(۳۸) وَعَنْ اَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ جَآءَ ثَلٰثَةُ رَهْطٍ

روايت كړى دى د انس رضي الله عنه څخه، ده وويل، راغله، دري، كسان

اِلٰى اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم يَسْاَلُوْنَ عَنْ عِبَادَةِ

و بيبيانو ته، د نبي صلى الله عليه وسلم، پوښتنه يي كوله، د عبادت

النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَلَمَّا اُخْبِرُوْا بِهَا كَاَنَّهُمْ

د نبي صلى الله عليه وسلم، كله چي، معلومات وركړل سو، و دوى ته، نو ګواكي دوى

تَقَالُّوْهَا فَقَالُوْا اَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم

دغه عبادت لږ وګڼئ، نو دوى وويل، چيري يو، موږ، د نبي صلى الله عليه وسلم په ډول

وَقَدْ غَفَرَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمَا

او يقيناً، بخښنه كړي ده الله، د هغه، د مخكني، د ګناهو څخه، او د هغه

تَاَخَّرَ فَقَالَ اَحَدُهُمْ اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّيْ

د وروستني ګناهو څخه، نو وويل، يوه د دوى، مګر، زه، لمونځ كوم

Maktaba Tul Ishaat.com

اَللَّيْلَ اَبَدًا وَقَالَ الْاٰخَرُ اَمَّا اَنَا اَصُوْمُ
په شپه کي، همیشه، او وویل، هغه بل، خو، زه، روژه نیسم

النَّهَارَ اَبَدًا وَلَآ اُفْطِرُ وَقَالَ الْاٰخَرُ اَنَا
دورځي، همیشه، او نه یې ماتوم، او وویل، هغه بل، زه

اَعْتَزِلُ النِّسَآءَ فَلَا اَتَزَوَّجُ اَبَدًا فَجَآءَ
لیري والی کوم، د ښځو څخه، نو نکاح نه کوم، هیڅکله، نو راغلی

النَّبِيُّ ﷺ اِلَيْهِمْ فَقَالَ اَنْتُمُ الَّذِيْنَ
نبي علیه السلام، ودوی ته، نو وویل یې، تاسو، هغه کسان یاست

قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا اَمَا وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَخْشَاكُمْ
چي ویلي مو دي، داسي او داسي، قسم په الله، زه، تر تاسو ډیر بیریږم

لِلّٰهِ وَاَتْقَاكُمْ لَهٗ لٰكِنِّيْ اَصُوْمُ وَاُفْطِرُ
د الله څخه، او تر تاسو تقوادار یم، خو زه، روژه نیسم، او روژه خورم

وَاُصَلِّيْ وَاَرْقُدُ وَاَتَزَوَّجُ النِّسَآءَ فَمَنْ
او لمونځ کوم (د شپې) او بیریږم، او واده هم کوم، د ښځو سره، هغه څوک

رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ. (رواه البخاري ومسلم)
چي مخالفت وکړي، زما د لاري څخه، نو نه دی، زما څخه.

(۳۹) وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ رضي الله عنه قَالَ صَلّٰى
او روایت دی د عرباض بن ساریه رضي الله عنه څخه، ده وویل، لمونځ راکړ

بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ ثُمَّ اَقْبَلَ عَلَيْنَا
موږ ته، رسول الله ﷺ، یوه ورځ، بیا یې، راواړوی، پر موږ

Maktaba Tul Ishaat.com

بِوَجْهِهٖ فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً ذَرَفَتْ

خپل مخ ، نصيحت يې وکړ موږ ته ، اثر ناکه ، نصيحت . چي وبهيدلې

مِنْهَا الْعُيُوْنُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ

په هغه سره ، سترګي ، او وبيريدل ، د هغه څخه ، زړونه

فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَاَنَّ هٰذِهٖ مَوْعِظَةُ

نو وويل ، يو سړي ، اې رسوله د الله ، لکه چي ، دغه ، نصيحت

مُوَدِّعٍ فَاَوْصِنَا فَقَالَ اُوْصِيْكُمْ

رخصت کونکی دی ، نو وصيت وکړه موږ ته ، نو ده وويل ، وصيت کوم تاسو ته

بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَاِنْ كَانَ

د بيريدو د الله څخه ، او د خبري اوريدو ، او د حکم منلو (د اميرانو) که څه هم (دغه امير)

عَبْدًا حَبَشِيًّا فَاِنَّهُ مَنْ يَّعِشْ مِنْكُمْ

يو غلام ، حبشي وي ، بيشکه ، څوک ، چي ژوند وکړي ، ستاسو څخه

بَعْدِيْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيْرًا فَعَلَيْكُمْ

وروسته ، نو به ويني دئ ، اختلافونه ، ډير ، نو لازم دی پر تاسو

بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَآءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ

تګلاره زما ، او تګلاره ، د خليفه ګانو ، راشديدنو ، چي هدايت ورته سوی دی

تَمَسَّكُوْا بِهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ

تاسو ټينګ ونسئ ، هغه ، او ونيسئ ، هغه ، د زامي په غاښونو

وَاِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْاُمُوْرِ فَاِنَّ كُلَّ

او ځان وساتئ ، او د نوو ، کارو څخه (په دين کي) خامخا ، هره

Maktaba Tul Ishaat.com

مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ. (رواه احمد وابوداؤد)

نوې خبره (نوی کار) بدعت ده، او هر، بدعت (په دين کې نوی کار) گمراهي ده.

(۴۰) وَعَنْ مَعَاذٍ رضی الله عنه قَالَ كُنْتُ رِدْفَ

او روايت دی د معاذ رضی الله عنه څخه، ده وويل، زه وم، شاته سپور

النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم عَلٰى حِمَارٍ لَيْسَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ

د نبي علیه السلام سره، پر خره، نه ؤ، زما او دده ترمنځ

إِلَّا مُؤْخِرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ يَا مَعَاذُ هَلْ

خو، يو لرگی، د تکې لپاره، نو وويل (نبي اكرم) اې معاذه، ايا

تَدْرِيْ مَا حَقُّ اللّٰهِ عَلٰى عِبَادِهٖ وَمَا

تا ته معلومه ده، څه دی، حق د الله، پر بندگانو خپل، او څه دی

حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ قُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ

حق د بندگان، پر الله باندي، ما ورته وويل، الله، او رسول دده، ښه خبر دی

قَالَ فَاِنَّ حَقَّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ اَنْ يَّعْبُدُوْهُ

ده وويل، خامخا، حق د الله، پر بندگانو، دادی، چې عبادت وکړي دده

وَلَا يُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ

او شريک نه کړي، دده سره، هيڅ شئ، او حق د بندگانو، پر الله باندي

اَنْ لَّا يُعَذِّبَ مَنْ لَّا يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا

دادی، چې عذاب ورنه کړي، هغه چاته، چې شريک ورنه نيسي، دده سره، هيڅ شئ

قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا اُبَشِّرُ بِهِ

ما ورته وويل، اې رسوله د الله، ايا په دې سره، زيری ورنه کړم، دد غې خبري

النَّاسَ قَالَ لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوْا. (رواه البخاری)

وخلکو ته، ده وویل، یا په دې سره زیری مه ورکوه، نو بیا به پر دغه تکیه وکړي.

وَهٰذَا اٰخِرُ الْاَحَادِيْثِ مِنْ هٰذَا الْبَابِ وَبِتَمَامِهٖ تَمَّ الْكِتَابُ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ عَلٰى سَيِّدِ رُسُلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ قَالَ الْمُؤَلِّفُ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُ وَشَكَرَ سَعْيَهٗ فَرَغْتُ مِنْ تَسْوِيْدِ هٰذَا الْكِتَابِ بِحَمْدِ اللّٰهِ وَحُسْنِ تَوْفِيْقِهٖ فِىْ شَهْرِ رَمَضَانَ الْمُبَارَكِ سَنَةَ اَرْبَعٍ وَسَبْعِيْنَ بَعْدَ اَلْفٍ وَثَلَاثِمِأَةٍ مِنَ الْهِجْرَةِ النَّبَوِيَّةِ عَلٰى صَاحِبِهَا الصَّلَاةُ وَالتَّحِيَّةِ.

## د کتاب پای

## تاريخ

۱۲ / رَمَضَانُ الْمُبَارَكِ / ۱۳۴۳ مِنَ الْهِجْرَةِ النَّبَوِيَّةِ

لمریځ کال: چهارشنبه، ۲۴ / ۱ / ۱۴۰۱ ش

Maktaba Tul Ishaat.com

# حدیث پیژندنه

**دغه لیکنه مو د درې سوه احادیثو د کتاب څخه راواخیسته چې د افغانستان د جیدو علماؤ لخوا ترتیب سوې وه.**

**حدیث**: عبارت دی له وینا تقریر او صفت د رسول الله ﷺ څخه.

**تقریر**: عبارت دی له دې څخه چې د رسول الله ﷺ په مخکې یو کار په عملي ډول سرته رسیدلی وي رسول الله ﷺ په خبر شوی وي منع یې نه وي ځني کړې او چپ پاته سوی وي.

**خبر**: د جمهور محدیثونو په نزد مرادف د حدیث دی او د بعضو محدیثونو په نزد خبر تر حدیث عام دی حدیث هغه دی چې د رسول الله ﷺ څخه رانقل شوی وي او خبر هغه دی چې د رسول الله ﷺ څخه یې نقل شوی وي او یا د بل چا څخه.

**اثر**: قول یا عمل ته د صحابي یا تابعي ویل کیږي.

**سنت**: مرادف حدیث دی همدا رنګه خبر په قول د اول او وروسته حدیث او خبر او سنت د جمهورو محدیثونو په نزد الفاظ یې مترادف دي او معنٰی یې یوه ده.

**متن**: هغه دی چې سند ته رسیدلی وي.

**سَند**: عبارت د هغه سلسلې څخه دی چې د حدیث روایت یې کړی وي اسناد په معنٰی د ذکر د سند او کله په معنٰی د عین سند راځي.

**اسناد**: نسبت د حدیث دی د هغه ویونکي ته، سره د سنده بعضي محدثینو اسناد په معنٰی د سند سره ذکر کړي دي.

**مسند**: هغه حدیث دی چې د هغه سند د اوله تر آخره ذکر سوی وي او اطلاق یې کیږي په هغه کتاب چې په هغه کې مرویات د یوه صحابي یا د اکثر علٰحده جمع سوي وي لکه مسند د امام احمد.

**طالب**: هغه څوک دی چې اراده د فن د حدیث یې کړې وي مګر درجې د اسناد د محدث ته نه وي رسیدلی.

**حافظ**: هغه څوک دی چې یو لک حدیثونه یې په یاد وي په لحاظ د سند او په

Maktaba Tul Ishaat.com

لحاظ د راوي د احوال او همدارنګه د جرح او تعديل او نورو شخه هم خبروي.

**حجت**: هغه څوک دی چي درې زره حديثونه يې ذکرسوي په ياد وي.

**حاکم**: هغه څوک دی چي د هغه علم ټول روايتونه احاطه کړي وي.

**راوي**: هغه څوک دی چي حديث سره د سند روايت کوي او د هغه سره علم لري او يا نقل کوونکی وي.

# د حديث علم

## د حديث علم پر دوه ډوله دی

۱: حديث په اعتبار د درايت.

۲: حديث په اعتبار د روايت.

## حديث په اعتبار د درايت

**پېژندنه**: هغه علم دی چي احوال او څرګندوالی د سند او متن د قبول او د ردېدو له حيثه او د هغه امورو څخه چي تعلق يې په دواړو پوري وي بحث کوي.

**موضوع**: متن او سند د قبول او د ردېدو له حيثه او نور هغه امور چي تعلق په دواړو پوري لري.

**غايا**: پېژندل د مقبول او مردودتر څو چي په مقبول عمل وسي او مردود پرېښودل سي.

**واضع**: قاضي ابومحمدالله رامهرمزيؒ.

## د حديث علم په اعتبار د روايت

**تعريف**: هغه علم دی چي د اقوالو او افعالو په واسطه پېژندل کيږي.

**موضوع**: اقوال افعال او تقارير او صفات د رسول الله ﷺ دي.

**واضع**: ابوبکر محمد بن حزم و يا مين بن شهاب زهري دی.

د رسول الله ﷺ حديث منبع او مصدر د شرعي احکامو دی او هغه چي په قرآن کي مجمل راغلي بيانوي مطلق د هغه مقيد او مشترک يې قابل د تاويل ګرځوي.

قرآن پيروي او وينا د رسول الله ﷺ پوره کوي "و مآ اٰتٰـکم الرسول فخذوه و ما

Maktaba Tul Ishaat.com

نهاكم عنه فانتهو" يعني په هر هغه څه چي رسول الله ﷺ تاسي ته درکړي دي پوره مسئ او عمل په وکړئ او د هغه څخه چي منع کړي يې پاسته څنې وساتئ.

حديث او سنت د پيغمبر د هغه په ژوند کي او د خلفای راشدينو په وقت کي او د هغه څخه په وروسته دورو کي قابل د اعتبار او ځای د رجوع د مفتيانو او حاجتمندانو دی پوه سه چي مطلب حل کوي او د هغه راټولېدل د رسول الله ﷺ په ژوند کي صورت نه ؤ نيولی ځکه چي رسول الله ﷺ د دې څخه منع کړې وه.

**۱**: د قرآن د حديث سره د ګډېدو بيره وه.

**۲**: د بعضي طبيعتونو او د قوي حافظو خاوندانو په خپله خوښه د حفظ کولو د احاديثو سره علاقه لرله په هغه ځای کي ليکلو ته حاجت نه ؤ.

**۳**: د کم شمېر ليکونکو په وجه په هغه وقت کي احاديث را جمع نه کړل سول.

د خلفای راشيدينو په وقت کي د احاديثو د راټولولو او جمع کولو اجازه نه وه او په روایاتو کي سختي کېدله کله چي به په دې اتفاق وسو چي يو څوک دي حديث روايت کړي نو د خپل وقت خليفه به د هغه څخه شاهدان غوښتل او يا به يې د حديث روايت کوونکي ته قسم ورکاوه تر څو معلومه سي چي حديث خو جعلي نه دی او خطا په کي واقع نه وي همدا وجه ده چي د اسلام پېشوايانو په دې سلسله کي ډېر احتياط کړی دی د مثال په ډول حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما به تر هغه وقته د حديث په راوي اعتبار نه کاوه تر څو چي به دوه شاهدان موجود نه وه تر دې حده چي د ثقه صحابه کرامو لکه مغيره او ابو موسیٰ او ابي بن کعب څخه به يې هم د اطمينان د حصول په نيت شاهدان غوښتل.

حضرت عمر رضي الله عنه ابي بن کعب ته وويل زه پر تا بد ګمانه نه يم خو د اطمينان د حاصلولو د پاره داسي کوم وروسته دغه طريقه د احاديثو د تقليد سوه.

د خلفای راشدينو په وقت کي احاديث تدوين سوي نه وه مګر د دريم خليفه د شهادت وروسته د امير معاويه او حضرت علي رضي الله عنه د اختلافاتو په وجه چي کوم کيفيت جوړ سو د هغه په وجه بعضي د دين څخه مخالفو خلقو د ځاني ګټي په خاطر د جعلي احاديثو په جوړولو شروع وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com

هر چا چي دغه کار وکړ هغه په زرهاوو جعلي حديثونه منځ ته راوړل او حقيقت يې د خلقو څخه پټ کړ دغه کار د امويانو د سلطنت تر پايه پوري دوام وکړ کله چي حضرت عمر بن عبدالعزيز خليفه سو د علم او پوهي لمن فراخه سوه په دغه وقت کي خليفه د ابوبکر بن حزم په عنوان چي استاد د خپل وقت عالمانو ته وليکل چي احاديث د رسول الله ﷺ مي تر نظر لاندي ونيول او د ليکلو لاندي مي راوستل او خوندي مي کړل ځکه د دين د علماوو د منځه تلو بېره مي محسوسوله هغه ؤ چي ابوبکر بن حزم د محمد بن شهاب زهروي په ملګرتيا د هغه وقت د خليفه په لارښوونه د احاديثو په راجمع کولو شروع وکړه او په دې سلسله کي يې د لومړ يتوب افتخار په برخه سو وروسته د دين علماوو د احاديثو د نشر کار ته ملا وتړله او لمن يې فراخه کړه د موضوعي او دروغجنو حديثو مخنيوى يې وکړ او د صحيح احاديثو په راټولولو يې لاس پوري کړ دغه قيمتي وقت ؤ ډېر کار احاديثو ته وسو په دې مبارک کار کي لاندي راغلي خلقو کار کړى دى.

۱: محدث اعظم حضرت امام مالک بن انس رحمة الله عليه په مدينه منوره کي.

۲: عبدالمالک بن عبدالعزيز بن جريج رحمة الله عليه په مکه معظمه کي.

۳: حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه په کوفه کي.

۴: حضرت هشيم بن بشير رحمة الله عليه په واسط کي.

۵: حضرت عبدالرحمٰن اوزاعي رحمة الله عليه په سوريه کي.

۶: حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله عليه په خراسان کي.

۷: حضرت محمد بن راشد رحمة الله عليه په سوريه کي.

۸: حضرت جرير بن عبدالحميد رحمة الله عليه په ري کي.

پورته ذکر سوي اشخاص په يوه زمانه کي تېر سوي دي او اکثريې د ابن حزم او ابن شهاب شاګردان وه دوى ټولو نبوي احاديث د صحابه کرامو د ويناوو او تابعينو مشرانو څخه جمع کړي دي او د هغو څخه يې احکام ايستلي دي او کتابونه يې د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو او تابعينو د اقوالو څخه ډک دي.

د دوهمي پېړۍ په آخره کي يوه بله طبقه د محدثينو رابښکاره سوه دوى غوښتل چي د رسول الله ﷺ اقوال د صحابه کرامو او تابعينو د اقوالو څخه بېل او ممتاز کړي او د داسي خلقو تاليفات په مسانيدو سره مشهور دي چي په دې ډول دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱: مسند عبید الله بن موسیٰ عیسیٰ کوفي.
۲: مسند مسدد بن سرحد بصري.
۳: مسند نعیم بن حماد خزاعي.
۴: مسند اسحاق بگن راهویه.
۵: مسند عثمان بن ابي شیبه.
٦: مسند امام احمد بن حنبل.

د دې دور د محدثینو خصوصیت دا ؤ چي تدوین د احادیثو به یې د صحابه کرامو د مرتبو سره سرته رساوه د مثال په ډول ټول هغه احادیث چي د رسول الله ﷺ څخه ابو بکر صدیق رضي الله عنه روایت کړي وه هغه به په اول سر کي وروسته چي کوم احادیث د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څخه روایت سوي دي بیا د حضرت عثمان غني رضي الله عنه څخه وروسته د حضرت علي رضي الله عنه څخه او په همدې ترتیب احادیث په درجو او مرتبو د صحابه کرامو باندي ترتیب او تدوین سوي دي او په هغه باندي ټول سندونه تیر سوي دي چي د هغه د جملې څخه مسند امام احمد بن حنبل تر اوسه موجود دی چي د محدثینو او فقهاوو د اعتبار وړ دی د هغه څخه وروسته د دریمي هجري پېړۍ په اوائلو کي یوه بله ډله د محدثینو منځ ته راغله دغه طبقې د موجودي ذخیرې څخه استفاده وکړه او د هغه څخه یې لوی لوی کتابونه تألیف کړل.

د دې جملې څخه دوه لوی شیخان د احادیثو چي یو یې ابو عبد الله محمد بن اسمٰعیل بخاري دی چي په ۱۹۴ هجري د شوال په میاشت کي پیدا سوی دی او په ۲۵٦ هجري د کوچني اختر په شپه وفات سوی دی او بل مسلم بن حجاج نیشاپوري دی چي په ۲۰۴ هجري کي پیدا سوی دی او په ۲٦۱ هجري کي وفات سوی دی چي دواړه لوړني اصحاب د احادیثو دي دوی خپل صحیحین وروسته د تحقیق او تدقیق څخه تدوین کړه او د احادیثو د راویانو په باره کي په خاصو شرائطو قائل سول ددې دواړو شیخانو کتابونه د احادیثو تر نورو کتابونو زیات د اعتبار وړ دي.

امام مسلم د حدیثو د روایت قبلولو دپاره چي په یوه زمانه کي اوسېدلي دي د راوي او مروي عنه په منځ کي شرط د زمانې نافذوي مګر امام بخاري علاوه د معاصریت

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوی په منځ کي د ملاقات يعني د ليدلو شرط هم لګوي.

همدا رنګه ابو داؤد سليمان بن اشعث ازدي سجستاني په ۲۰۲ هجري کي پيدا سوی دی او په ۲۷۵ هجري کي د شوال په مياشت کي وفات سوی دی او ابو عيسیٰ محمد بن عيسیٰ ترمذي په ۲۰۹ هجري کي پيدا سوی دی او په ۲۷۹ هجري د رجب په مياشت کي وفات سوی دی او ابو عبد الرحمٰن احمد بن شعيب نسايي په ۲۱۵ هجري کي پيدا سوی دی او د ۳۰۲ هجري د صفري په مياشت کي وفات سوی دی او ابو عبدالله محمّد بن يزيد قزويني مشهور په ابن ماجه په ۲۰۹ هجري کي پيدا سوی دی او په ۲۷۳ هجري کي د روژې په مبارکه مياشت کي وفات سوی دی، د دې پورته ذکر سوي اشخاصو کتابونه په صُحاح ستّه سره مشهور دي او د احاديثو معتبر کتابونه بلل کيږي بالخصوص صحيح البُخاري او صحيح المسلم د زيات اعتبار وړ کتابونه دي.

البته د احاديثو د کتابونو ترتيب او تدوين په دې شپږو کسانو پوري منحصر نه دی بلکه په دې هکله نور کسان هم تأليفات لري او په زياته اندازه يې کتابونه تأليف کړي دي مګر د شهرت په لحاظ په دوی پسې نه سي رسېدلای.

په دې دور کي د جرح او تعديل مفکوره شروع سوه او محدثينو د راويانو په باره کي دقيق تحقيقات او ژور مطالعات وکړه او هر يو چي قابل د جرح واقع کېدی د هغه روايت يې ليري کاوه او که يې چيري په عدالت د صحيح يقين راتلی هغه روايت به يې قبلاوه د حديثو تدوين په دې دوره کي مکمل سو او په حيث د يوه مستقل او بېل علم د نورو ديني علومو په قطار کي راغی.

احاديث منبع د صادرېدو د اسلامي شريعت او د مفتيانو د رجوع ځای وګرځېدی صحت او ثقه توب د حديث د فقهاوو د بحث باعث وګرځېدی او په دې باره کي ډېر کوششونه وسول چي زموږ په زمانه کي ډېرو دروغجنو او موضوعي احاديثو رواج پيدا کړ او د اختلاف دروازه خلاصه سوه.

يو بل خصوصيت چي په دې دوره کي ليدل کيدی هغه دا ؤ چي د دې دورې محدثينو به حديث د رواياتو او د سند سره ذکر کاوه او ټول هغه احاديث چي په يوه

Maktaba Tul Ishaat.com

موضوع پوري به مربوط وه په یوه فصل کي را وړل د رعایت په منظور د بابونو ترجمه په ځو فصلونو کي لیدل کیده په صحاح سته کي به دا ډول مقررات لیدل کیدل د مثال په ډول جامع البخاري چي محتوی د ۷۲۷۵ حدیثو دی که تکراري حدیث د هغه حذف سي.نو فقط ۴۰۰۰ احادیث پاتیږي.

امام بخاري دا حدیثونه د درو لکو حدیثونو څخه انتخاب کړي او را ایستلي دي بیا یې په خپل کتاب کي لیکلي دي.

## د احادیثو اقسام د اصولو په اعتبار د خلقو د پاره

حدیث د اصولو په اعتبار د خلقو دپاره پر دوه ډوله دي.

### ۱: متواتر ۲: احاد.

**۱: متواتر**: هغه احادیث دي چي په هره طبقه کي د نورو طبقو څخه روات او زیاتو خلقو روایت کړي وي چي عادتاً اتفاق د هغه د دروغو څخه پاک وي او آخري استناد د هغه په بحث وي د مثال په ډول لکه چي وامي وریده یا مي ولیدل او داسي نور. د تواتر د تحقیق دپاره څلور شرطونه ضروري دي.

**۱**: د روات زیاتوالی.

**۲**: توافق د هغه چي عادتاً په دروغو سره مجال وي.

**۳**: خبر استناد به یې حس وي.

**۴**: متواتر پر دوه ډوله دي لفظي او معنوي.

**الف**: لفظي هغه دی چي د هغه لفظ تواتر ته رسیدلی وي د مثال په ډول دا حدیث دی:

"من كذب علی متعمدا فليتبوا مقعده من النار"

**ب**: معنوي هغه دی چي د هغه لفظ تواتر ته نه وي رسیدلی مګر معنی یې تواتر ته رسیدلې وي د مثال په ډول احادیث حوض النبي ﷺ او داسي نور چي الفاظ د هغه مختلف مګر مشترکه مقصد د هغه د تواتر حد ته رسیږي.

د تواتر حدیث حکم دا دی چي یقین د صحت پر راځي نسبت قائل ته په دې سرطے چي اوریدونکی مانع د غفلت نه وي څکه چي غبي او غافل د فهم ادراک نه سي کولای

**۲: احاد**: هغه دی چي په هغه کي شرائط د تواتر نه وي جمع سوي اخبار د احاد پر دري قسمه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

**الف: مشهور**: هغه دی چي روایت یې په هره طبقه کې د دوو کسو څخه زیات وي مثال یې دا دی: " المسلم من سلم المسلمون من لسانه و یده "

**ب: عزیز**: هغه دی چي په یوه موضوع کي د دوو یا دوو څخه زیاتو کسانو څخه روایت سوی وي او د دوو کسو څخه کم نه وي مثال یې دا دی:

"لایؤمن احدکم حتی اکون احب الیه من والده و ولده والناس اجمعین"

**ج: غریب**: هغه دی چي په سلسله کي د سند د یوې موضوع کي زیات تر زیاته یو کس راوي وي مثال یې دا دی: "انما الاعمال بالنیات"

## د احادیثو ډولونه

حدیث د مختلفو جهتونو څخه په مختلفو انواعو تقسیم سوی او هره نوعه یې مختلف او بېل اقسام لري چي د رعایت په لحاظ خلاصه او قسمونه یې په لاندي ډول ذکر کیږي.

## د حدیثو قسمونه په اعتبار

## د سقوط د راوي او نښتوالي د هغه

حدیث د راوي د سقوط او د هغه د نښتوالي په اعتبار پر دوه قسمه دی.

### یعني متصل او منقطع

۱: **متصل**: هغه دی چي هیڅ یو د راویانو د سلسلې څخه د هغه قطع سوی نه وي.

۲: **منقطع**: هغه دی چي په سند د هغه کي قطع راغلې وي او د لاندي قسمونو لرونکی وي.

**الف: معلق**: هغه دی چي سقوط د راوي د اول سند نه وي چي د هغه په سقوط کي هیڅ خطا نه وي یو کس وي یا زیات.

**ب: مرسل**: هغه دی چي د راوي سقوط د آخر سند نه وي یعني یو صحابي د هغه قطع سوی وي.

**ج: معضل**: هغه دی چي په منځ کي د سند راوي قطع سوی وي.

**د: منقطع**: د خاص معنی په لحاظ هغه دی چي په مابین د سند یو راوي یا زیات راویان قطع سوي وي د اقسامو د جملې د سقوط د تدلیس نه وي او هغه د حنفي سقوط په نامه یادیږي همدارنګه مدلس هغه دی چي یوه سړي د بل چا څخه نه وي اورېدلی مګر په یوه زمانه کي یې ملاقات سوی وي د یوه بل سره همدارنګه د هغه روایت وکړي چي تا هم د هغه څخه اورېدل کړي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

## د حديث قسمونه د تضاد روايت له حيثه

**۱: محفوظ**: هغه دی چي راوي د هغه ثقه وي او تر هغه په ټيټه درجه کي يوه صحابي د هغه ښځه مخالفت کړی وي.

**۲: شاذ**: هغه دی چي راوي د هغه ثقه وي او د ثقه د صحابي ښځه يې مخالفت کړی وي.

**۳: معروف**: هغه دی چي راوي د هغه ثقه وي او بل ضعيف راوي د هغه مخالفت کړی وي.

**۴: منکر**: هغه دی چي راوي د هغه ضعيف وي او مخالف د ثقه صحابي وي.

## د حديثو قسمونه په اعتبار د قبول او رد

د حديثو قسمونه په اعتبار د قبول او رد سره تر درې قسمه وتلي نه دي

**۱: صحيح**: هغه حديث دی چي غير د علت ښځه او شاذ وي چي سند د هغه متصل او روايت لرونکی يې د پوره عدل وي.

**۲: حسن**: هغه حديث دی چي د صحيح صفاتو لرونکی وي او ضبط د هغه پوره نه وي کله چي ذکر سوی حديث د متابع يا شاهد په واسطه تقويه سوی وي هغه ته صحيح لغيره وايي او يا په نامه د حسن لذاته ياديږي.

**۳: ضعيف**: هغه حديث دی چي ذکر سوي صفات کاملاً او يا بعضي د هغه ورک وي ضعيف حديث ته چي ضعيف يې خفيف وي مثلاً په روايتونو کي د حفظ سورة يا جهالت او تدليس وي د منابع او يا شاد په واسطه سره تقويه سوی وي په دې وقت کي حسن لغيره کرځېدلی او د قبول سوو احاديثو په جمله کي راځي.

## ضروري خبره

په تعريف د صحيح لغيره او حسن لغيره په ذکر د شاهد او متابع منځ ته راغی پس چاره نه لرو چي دا دواړه تعريف نه کړو.

**۱: متابع**: هغه حديث دی چي راوي يې د بل راوي سره دوه شيخه پوره د هغه ښځه موافقت کړی وي په دې شرط چي انتهاء د دواړو په يوه صحابي باندي ختم وي.

**۲: شاهد**: هغه حديث دی چي يو راوي د بل راوي سره موافقت ولري مګر انتهاء د دواړو په دوو صحابه کرامو پوري تړلې وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

## د حديثو قسمونه په اعتبار د انتهاء د سند

۱: **مرفوع** : هغه حديث دی چي انتهاء د هغه تر رسول الله ﷺ پوري رسېدلې وي د مثال په ډول قال او فعل او كان رسول الله ﷺ .

۲: **موقوف** : هغه حديث دی چي انتها يې تر صحابي پوري رسېدلې وي.

۳: **مقطوع** : هغه حديث دی چي انتهاء د هغه تر تابعي پوري رسېدلې وي.

## د مردودو احاديثو اقسام

مردودېدل د حديثو د دوو جهتونو څخه وي.

**الف** : مردوديت د حديث د حذف كولو د سند له جهته.

**ب** : مردوديت د حديث د راوي د طعن د حيثه او په لاندي قسمونو دی.

۱: **موضوعي**: هغه حديث دی چي د هغه راوي په رسول الله ﷺ پوري دروغ تړلي وي.

۲: **متروك**: هغه حديث دی چي د هغه راوي متهم په دروغو وي او په غير د ده بل چا دغه حديث نه وي روايت كړی او هم د حديث د قواعدو او هم د اسلام د دين مخالف وي.

۳: **منكر** : هغه حديث دی چي غلطي د هغه فاحش او غفلت يې زيات او فسق يې ظاهر وي په دې شرط چي د كفر حد ته نه وي رسېدلی.

۴: **معطل**: هغه حديث دی چي ظاهر د هغه سالم وي مگر وروسته د ماهرينو د لټولو د هغه نقص ښكاره سي.

۵: **مدرج** : هغه حديث دی چي راوي خپل كلام يا د بل چا كلام په داسي ډول په حديث كي ولېكي چي د اصل حديث گمان پر وسي.

۶: **مقلوب**: هغه حديث دی چي په هغه كي تغير او تبديل راغلی وي چي سند د يوه حديث د بل حديث د متن د پاره او متن د يوه حديث د بل حديث سره تړلی وي.

۷: **مضطرب**: هغه حديث دی چي په مختلفو طرفونو كي روايت سوی وي څنگه چي د جمعي امكان د هغه په منځ كي نه وي او يو پر بل يې ترجيح يا برتري نه وي.

## تمت بالخير

Maktaba Tul Ishaat.com